(۴) د دې مادې په (۳) فقره کې له درج شوو حالاتو په پرته، مرستیالان یا د ټولو ناظر په بل هیڅ دلیل له خپلو دندو څخه نه معزولیږي یا د تعلیق په حالت کې نه راوستل کیږي.

(۵) پخپله یا یې د قانوني وکیل په واسطه د دلایلو له وړاندې کولو او د جمهور رئیس لخوا د هغو تر څیړنې د مخه، له دندو څخه د مرستیال یا د ټولو د ناظر لیرې کول یا تعلیق جواز نه لري.

(۶) د دافغانستان بانک مرستیال یا د ټولو ناظر کولای شي د ټولو رئیس ته له دریو میاشتو څخه په لږه یا په لالږه موده کې چې د ټولو رئیس له هغې سره موافقه وکړي، له خپلې دندې څخه استعفی ورکړي.

**د ټولو ناظر**

**یوویشتمه ماده:**

(۱) عالي شوري، د ټولو ناظر چې د شرایطو لرونکی مسلکي حسابدار وي، د دې قانون د شلمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو حکمونو پر بنسټ، د هغو نوماندو (کاندیدانو) له منځه څخه چې د خدمت د شرایطو نه لرونکي پیژندل شوي نه وي، غوره کوي.

د ټولو ناظر بیا انتصاب په دې سمت باندې مجاز دي.

(۲) د ټولو ناظر د دافغانستان بانک د څیړنې د څانګې مسئول دی.

(۳) د څیړنې د څانګې کارکوونکي، د ټولو د ناظر په وړاندیز او د دافغانستان بانک د ټولو د رئیس په منظورۍ مقرر یا ګوښه کیږي.

(۴) د ټولو ناظر او د څیړنې څانګه د لاندې دندو لرونکي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د دافغانستان بانک د احتمالي مالي خطرونو د مخنيوي لپاره د کړنلارو وضع کول او ساتل او د مناسبو سندونو ساتل او د هغو پر تطبيق باندې څارنه.
۲- د دافغانستان بانک د نافذو قوانينو او مقرراتو پر رعايت باندې د څارنې لپاره، د دافغانستان بانک د ادارې او فعاليتونو دوامداره څېړنه.
۳- د څېړنې سرته رسول او د دافغانستان بانک د حسابونو، ريکاردونو او همدارنګه دکړنلارو، دحسابدارۍ دکنترولونو او بودجې په باره کې عالي شورى ته د وړانديزونو او مشورو وړاندې کول.
۴- د دافغانستان بانک د مالي صورت حسابونو او نورو اړوندو سندونو منظمه څېړنه او رسيدګي او د هغو د سموالي (صورت صحت) د تصديق پاڼې صادرول.
۵- د دافغانستان بانک دعالي شوري او د ټولو د رئيس د تصميمونو له رغنده اجراء او تطبيق څخه څارنه.
۶- د نورو هغو دندو او مکلفيتونو سرته رسول چې د عالي شوري او د ټولو د رئيس لخوا سپارل کېږي.

## کارکوونکي

### دوه ويشتمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مسئولين او کارکوونکي تر هغه وخته پورې چې په د افغانستان بانک کې دنده سرته رسوي، نشي کولاى د بل هغه بانک يا مالي مؤسسې چې څارنه يې د دافغانستان بانک په غاړه ده، استخدام يا کريډت ترلاسه کړي. خو دا چې د افغانستان بانک بل تصميم ونيسي.
(۲) د کارکوونکو د کار او استخدام د ښوشرايطو د تنظيم په منظور، د دافغانستان بانک عالي شوري مقررات وضع کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کارکوونکي اواستازي(نمایندگان)**

**درویشتمه ماده:**

(۱) عامل هیئت د اړوندو تقنیني سندونو مطابق، د دافغانستان بانک کارکوونکي او استازي مقرر او معزولوي.

(۲) معاش، اجوره (دستمزد) حق الزحمه او نور حقوق او امتیازونه چې د دافغانستان بانک په واسطه د هغه کارکوونکو او استازو ته ورکول کېږي، د دافغانستان بانک د خالصې ګټې یا نورو ګټو په حساب د محاسبې وړ نه دي.

**امتناع**

**څلېریشتمه ماده:**

که چېرې د دې قانون په اووه لسمه ماده کې درج شوې موضوع په عالي شوري یا عامل هیئت کې تر بحث لاندې ونیول شي، غړی مکلف دی خپلې ګټې د مخه ښکاره کړي، پدې صورت کې هغه په بحث او تصمیم نیونه کې ګډون نه کوي او د نصاب د بشپړتیا لپاره د هغه حضور لازم نه دی.

**د ګټو(منافعو) تضاد**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک رئیس، مرستیالان او د ټولو ناظرخپل ټول مسلکي توان په دافغانستان بانک کې په خدمتونو لګوي او له بانک څخه بهر، بل هېڅ بې معاشه یا بامعاشه منصب یا پست نشي منلی. خو دا چې د دافغانستان بانک د نوماند (نامزد) یا استازي په توګه په هغه کې دنده سرته ورسوي.

(۲) پخوانی رئیس، مرستیال یا د ټولو ناظر، په دافغانستان بانک کې له خدمت څخه له ګوښه کېدو وروسته، د عالي شوري له مخکنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلې موافقې پرته، تر یوه کاله پورې په بله مالي مؤسسه کې په دنده کې نشي شاملیدای.

(۳) د دافغانستان بانک کارکوونکی نشي کولای، د د افغانستان بانک له مخکنۍ لیکلې موافقې پرته، په بله اداره کې بې معاشه یا بامعاشه استخدام شي.

(۴) د ټولو رئیس، مرستیال، د لوړې رتبې مامور یا نور کارکوونکي نشي کولای هغه تحفه یا پور چې د هغو د دندې په بې پلوه (بېطرفانه) سرته رسولو کې ناسمه اغېزه پرېږدي، خپل ځان ته یا د بل شخص په استازیتوب چې ده ته منسوب وي یا له هغه سره سوداګریز، مالي یا کورني (فامیلي) اړیکي ولري، ومني.

**د اسرارو ساتل**

**شپږویشتمه ماده:**

هغه شخص چې د دافغانستان بانک د عالي شورې، عامل هیئت د غړي، د ټولو د رئیس، لوړ پوړي مامور، کارکوونکي یا استازي په توګه دنده سرته رسولې یا یې رسوي د لاندې مراتبو په رعایتولو مکلف دی:

۱- محرمو اطلاعاتو ته چې د خپلې رسمي دندې د سرته رسولو په وخت کې یې لاس ته راوړي دي، د لاس رسېدنې یا افشاء یا خپرولو د اجازې نه ورکول، خو دا چې د محکمې یا قانون د حکم په اثر یا د محکمې د غوښتنې یا له بهرني څارونکي (ناظم) سره د همکارۍ د مقاولې په نتیجه کې.

۲- د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو معلوماتو څخه شخصي ګټه نه اخیستل یا بل شخص ته له هغو څخه د ګټې اخیستنې د اجازې نه ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریېم فصل
## مـالي چارې

### پانګه
**اووه ویشتمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک مجازه پانګه اته ملیارده افغانۍ یا هغه مبلغ چې د دې قانون د یو سلو دیرشمې مـادې پـه موجب د دافغانستان بانک له شتمنیو یا ورکړو (بدیهیو) څخه د مستقلې بررسۍ په واسطه او یـا د هغـو زیـاتو پیـسو چـې د دې قـانون د نهـه ویـشتمې مـادې مطابق، د خالصو ګټو د لېږدونې په نتیجه کې په رامنځته کېږي، ټاکل کېږي.

(۲) د دافغانستان بانک پانګه په دولت پورې اړه لري او د لېږدونې وړ یا د حبس یا د رهن د حق تابع نده.

### د خالصې ګټې یا زیان محاسبه
**اته ویشتمه ماده:**

د هر مالي کال لپاره د دافغانستان بانک خالصې ګټې یا زیانونه د نړیـوالې حـسابدارۍ د معیـارونو مطـابق، د عملیـاتو د عوایـدو یـا خالص زیان د جمع په توګه، د موندو خالصو عوایدو او نښتو زیانونو او د نه لاسته راغلې ارزښت موندنې (ارزش یابۍ) د په ګډون لاندې زېرمـه ایز یـا احتیـاطي حساب تـه لـه ورکړې ګټې یـا زیـان وروسـته محاسبه کېږي:

۱- د نه حصول وړ او یا مشکوکو پورونو، د پانګې د استهلاک او د کارکوونکو د تقاعد صندوق ته د ونډې د ورکړې لپاره.

۲- د مـالیې د وزیر له تأیید وروسته د هغو نورو مقصدونو لپاره چې د دافغانستان بانک یې لازم وبولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خالصو ګټو تخصیص**

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک په هر کال کې د خالصې ګټې (منفعت) د موجودیت په صورت کې د لومړیتوب (تقدم) په ترتیب سره، په لاندې مواردو کې هغه اختصاصوي:

۱- د دافغانستان بانک د پانګې په حساب ترهغه حده چې د دافغانستان بانک مجازه پانګه د پولي په سلو کې د پوررونو (بدیهیو) د ټول مبلغ په سلو کې د (پنځو) معادل چې د دافغانستان بانک په بیلانس شیټ یا تراز پاڼه کې د هغه مالي کال په پای کې منعکسه شوېده، زیاتوب ومومي.

۲- د بها لرونکو سندونو د بیا پېرودنې لپاره چې د دولت لخوا د دې قانون دیو دېرشمې مادې مطابق، د دافغانستان بانک ته صادر شوي او د هغه په واک کې ورکول کېږي.

۳- د دافغانستان بانک د عمومي زېرمې لپاره تر هغه حده چې د عمومي زېرمې میزان، د دافغانستان بانک د مجازې پانګې معادل شي.

عمومي زېرمه یوازې د دافغانستان بانک د زیانونو د جبران لپاره لګول کېږي.

۴- د مالیې د وزیر له تأیید وروسته، د نورو زېرمو لپاره د خاصو مقصدونو د تأمین په غرض چې د دافغانستان بانک یې لازم وبولي.

۵- له خالصې ګټې څخه پاتې مبالغ، د دې مادې د(۱) فقرې له (۱-۴) جزء پورې د درج شوو تخصیصاتو له وضع کولو وروسته تر دغو شرایطو لاندې لېږدول کېږي:

- د دې مادې د(۱) فقرې له (۱-۴) جزء کې درج، اختصاص ورکړل شوي مبالغ داسې محاسبه کېږي لکه دا چې د بانکي عملیاتو د خالصو عوایدو له مجراء څخه یې صورت موندلی وي. په هغه صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې په خالصه ګټه کې د عملیاتونو د عوایدو له د مخکنیو تخصیصاتو وروسته چې په خالصه ګټه کې شامل دي، کلاً مصرف شوي وي. داسي تخصیصونه پدې ډول محاسبه کېږي لکه چې د تحقق نه موندلې ارزش یا بی د خالصې ګټې له مدرک څخه صورت مومي.

- د عملیاتي خالصو عوایدو پاتې، د مالي کال له پای ته رسېدو وروسته په څلورو میاشتو کې دولت ته لېږدول کېږي او د (موجودیت په صورت کې) د تحقق نه موندلې ارزش یابی د خالصو ګټو پاتې د ارزش یابی د زېرمې په حساب چې د دافغانستان بانک په بېلانس شیټ کې منعکسه شوېده، تخصیص ورکول کېږي.

(۲) د دې قانون د حکمونو د په پام کې نیولو سره، د دافغانستان بانک د پولي بدیهیو مجموع له لاندې مبالغو څخه عبارت دي:

۱- د دوران (چلند) په حال کې ټول بانکنوټونه، فلزي مسکوکات او د دافغانستان بانک لخوا صادرې شوې د پور بها لرونکې پاڼې چې راټولې شوې نه دي.

۲- په ټولو حسابونو کې موجود مبالغ چې د دافغانستان بانک په دفترونو کې د حساب لرونکو په وسیله تحویل شوېدي.

**د خالصو زیانونو تخصیص**

**د پرشمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک په هر مالي کال کې د خالص زیان متحمل شي، دغه زیان په لاندې ترتیب اختصاصېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د عملیاتو د خالص زیان له مجموع څخه مرکب خالص زیان یا د بانک فعالیتونه اود ارزش یابی خالص زیان تحقق نه وي موندلی، د عملیاتي خالص زیان مبلغ، بالترتیب د عمومي زېرمې یا پانګې په حساب اېښودل کېږي او د تحقق نه موندلې ارزش یابی خالص زیان، د ارزش یابی د زېرمې حساب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږدول کېږي اويا په هغه صورت کې چې د ارزش يابی د زېرمې حساب د دې زيان د اختصاص په پايله کې منفی شوی وي، خالص زيان بالترتيب د عمومي زېرمې يا پانګې حساب ته لېږدول کېږي.
۲- په هغه صورت کې چې خالص زيان قسماً د عملياتي عوايدو په اثر او زياته برخه يې د تحقق نه موندلې ارزش يابی د خالص زيان په اثر منځ ته راغلی وي، خالص زيان د ارزش يابی د زېرمې حساب ته اختصاص مومي او په هغه صورت کې چې د ارزش يابی د زېرمې حساب د دې اختصاص په پايله کې منفي شوی وي بالترتيب د عمومي زېرمې يا پانګې حساب ته لېږدول کېږي.
۳- په هغه صورت کې چې د تحقق نه موندلې ارزش يابی خالصه ګټه د عملياتو له خالص زيان څخه لږ وي، بالترتيب د عمومي زېرمې يا پانګې حساب ته لېږدول کېږي.

**په پانګه کې د کمښت جبران**

**يودېرشمه ماده:**

(۱) د پانګې د کمښت جبران هغه وخت د تطبيق وړ دی چې د دافغانستان بانک، له لاندې مواردو څخه له يوه سره مخامخ شي:
۱- په هغه صورت کې چې د مياشتني بېلانس شيټ پروفورمه چې د دې قانون د څلور اويايمې مادې مطابق برابرېږي، د شتمنيو ارزښت د بديهيو له مجموع او لاس نه خوړلې مجاز پانګې څخه ښکته سقوط وکړي.
۲- په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک خالصه ګټه د هر مالي کال په پای کې د هغه په حسابونوکې د دې قانون د نهه ويشتمې مادې د (۱) فقرې په (۱) جزء او (۲) فقره کې درج د بديهيو د مبلغ د مجموع په سلو کې د پنځو معادل په ميزان، د مجاز پانګې د زياتولو لپاره د مالي کال په پای کې ښودل کېږي، کافي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په (۱ او ۲) جزء کې د درج شوو حالاتو د تحقق په صورت کې لاندې اجراآت صورت مومي:

۱- په هغه صورت کې چې د کلني تورم د رسمي سنجش وروستی میزان په سلو کې له ۳ څخه تر ۲۰ پورې وي، د مالیې وزیر د بېلانس شیټ له ترلاسه کولو وروسته د یوې میاشتې په ترڅ کې، په افغاني پیسو د معاملې وړ پور بها لرونکي سندونه او د بازار د ټکټاني نرخ چې د دولت لخوا خپور شوی (په نشر رسېدلی) دی، په هر هغه مبلغ چې د دې کمبود د جبران لپاره کافي وي، د دافغانستان بانک په واک کې ورکوي. د تورم پر دغو حدودو باندې په هرو دریو کلونوکې نوې کتنه کېږي.

۲- په هغه صورت کې چې د کلني تورم د رسمي سنجش وروستنی میزان په سلو کې له ۳ څخه تر ۲۰ پورې نه وي، د مالیې وزیر لومړی د حکومت د بودجوي تخصیص د پروسې له لارې یو تخصیص برابروي. که دغسې تخصیص منظور نشی، د مالیې وزیر د بېلانس شیټ، په افغاني پیسو د معاملې وړ پور بهالرونکي سندونه او د بازار د ټکټاني نرخ چې د دولت لخوا خپور شوی دی، په هر هغه مبلغ چې د دې کمبود د جبران لپاره کافي وي، د دافغانستان بانک په واک کې ورکوي.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حالاتوڅخه د یوه دتحقق په صورت کې ملي شورې له کورنیو او بهرنیو متخصیصو څخه جوړ څېړنیز (تحقیقاتي) کمېسیون د عواملو د څېړنې لپاره ټاکي او حسب الزوم وړاندیزونه وړاندې کوي.

د دافغانستان بانک له کمېسیون سره په هر اړخیزه همکارۍ مکلف دی د نه همکارۍ په صورت کې د دې قانون د دوولسمې مادې د (۱) فقرې په (۸) جزء کې درج شوی حکم د تطبیق وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دخالصې ګټې په تخصيص کې قيود**

**دوه دېرشمه ماده:**

لېږدونه يا بيا پېرودنه او يا ورکړه د دې قانون د نهه ويشتمې مادې د حکم مطابق چې په پايله کې يې د دافغانستان بانک شتمنۍ له بديهيو او لاس ته خوړلې پانګې او زېرمې څخه لږېږي، صورت نشي موندلی.

## څلورم فصل
## لومړۍ برخه پيسې

**رايجې پيسې او پولي واحد**

**دري دېرشمه ماده:**

د افغانستان رايجې پيسې او پولي واحد (افغانۍ) ده او نښه (علامه) يې (Af) ده.

**دبانکنوټ او سکې خپرول (نشرول)**

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک په هېواد کې د دوران په منظور د بانکنوټ او سکې د خپرولو د انحصاري حق لرونکی دی.

(۲) هغه بانکنوټونه چې د دې مادې د حکمونو مطابق خپرېږي، د دافغانستان بانک په شتمنيو کې تر ټولو لومړنۍ بديهي ګڼل کېږي.

(۳) د دافغانستان بانک د خپلو بانکنوټونو او سکو خپرولو په منظور په مرکزي دفتر، په هېواد کې د خپلو نمايندګيو او فروعو په دفترونو کې مناسب ترتيبات نيسي او بانکنوټونه او سکې حسب اللزوم د دوران لپاره وړاندې (عرضه) کوي.

(۴) په هغو بانکنوټونو اوسکو کې چې د دافغانستان بانک په واسطه د دوران لپاره په هېواد کې خپرېږي، د تجارت په قانون کې درج

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعهدي نوټونه، حجت، برات یا د سوداګریزو سندونو نور ډولونه شامل ندي.
د دافغانستان بانک له هغو سره په رابطه کې یوازې د دې قانون د حکمونو مطابق د مکلفیت لرونکی دی.

**رایجې او قانوني پیسې**
**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) د پیسو د ورکړې وسیله په هغه صورت کې د هېواد قانوني او رایجې پیسې ګڼل کېږي چې د بانکنوټ اوسکې په واسطه سرته ورسېږي.
بانکنوټونه او سکې په هېواد کې د ټولو دولتي او خصوصي پورونو د ورکړې لپاره د هېواد په رایجو پیسو د هغو په اسمي ارزښت سره صورت موندلی شي.

(۲) د دافغانستان بانک واک لري هغه پیسې چې د بانکنوټ اوسکې په واسطه ورکول کېږي، محدودې کړي او د بانکنوټونو او سکو اسمي ارزښت چې ورکړه د هغو په واسطه صورت مومي په مشخصو مبالغو محدوده کړي.

(۳) له بانکنوټونو او سکو څخه منظور، هغه بانکنوټونه او سکې دي چې په هېواد کې د دوران لپاره، د دافغانستان بانک په واسطه د دې فصل د اړوندو مادو د حکمونو په موجب خپرې شوې او له دوران څخه وتلی نه وي.

**د رائجو پیسو مشخصات**
**شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) رایجې پیسې له هغو بانکنوټونو او سکو څخه عبارت دي چې په هېواد کې د دوران لپاره، د دافغانستان بانک په واسطه، د دې قانون دحکمونو مطابق خپرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د بانکنوټونو او سکو اسمي ارزښت، اندازه، ډول (شکل)، جنس، محتوی، وزن، ډیزاین او نور مشخصات د دافغانستان بانک لخوا په اړوندو مقرراتو کې مشخصیږي. بانکنوټونه د مالیې د وزیر او د دافغانستان بانک د ټولو د رئیس د لاسلیک لرونکي وي.

**د رایجو پیسو تولید او ساتنه (خوندیتوب)**

**اووه دېرشمه ماده:**

د دافغانستان بانک مکلف دی، د بانکنوټونو د چاپ او د سکو د ضربولو په غرض په دوران کې د نه لوېدلو بانکنوټو او سکو د امنیت او خوندیتوب د تأمینولو او د اړتیا په صورت کې، د کلیشو، سرسکو، له دوران څخه د وتلو (خارج شوو) بانکنوټونو او سکو د له منځه وړلو لپاره لازم تدبیرونه ونیسي.

**د رایجو پیسو تبادله**

**اته دېرشمه ماده:**

د دافغانستان بانک د غوښتنې په صورت کې، بانکنوټونه او سکې په معادل مبلغ له مزد او حق العمل پرته تبادله کوي.

**نامناسبې رایجې پیسې**

**نهه دېرشمه ماده:**

(۱) نامناسب بانکنوټونه او سکې له هغو بانکنوټونو او سکو څخه عبارت دي چې خیرې خیرې یا له شکل څخه غورځول شوي وي او هغه سکه چې چیته، ناقصه او یا له شکل څخه لوېدلې وي او وزن یې له معمولې کچې اخیستنې څخه د زړښت له علت پرته را ټیټ شوی وي.

(۲) نامناسب بانکنوټونه او سکې له دوران یا چلند څخه ایستل کېږي. د دافغانستان بانک، د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوو شرایطو په استثنی هغه نامناسب بانکنوټ یا سکه چې پیدا (ترلاسه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي یې، له دوران څخه باسي او له منځه یې وړي او هغه په مشخصو بانکنوټونو او سکو چې د هغو معادل دي بدلوي.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شي د هغو بانکنوټونو او سکو له بدلولو څخه چې ډيزاین یې مشهود نه وي، بد شکله یا سوري شوي یا یې څلویښت فیصد سطح ضایع یا ورکه شوې ده، ډه ډه وکړي، دغه ډول پیسې، د هغه خاوند ته د بدل له ورکولو پرته له جریان څخه وځي او محوه کېږي. د دافغانستان بانک کولای شي په خاصو مواردو کې په کلي یا جزئي بدلونې لاس پورې کړي.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي هغه بانک نوټ چې له ظاهري نظره یې تغییر موندلی، له معاوضې پرته مصادره کړي، په خاصه توګه هغه بانکنوټونه چې پر مخونو یې څه شی لیکل شوي، نقاشي شوي، ډیزاین او محتویات یې مکرراً چاپ شوي وي، مهر یې خوړلی یا تسلسلي سوري لري اویا یې سریښناکه ماده پر مخونو پکار وړل شوې وي.

(۵) دعوایدو د ټولولو مسئولین مکلف دي، نامناسب یا جعلي بانکنوټونه یا سکې چې لاسته یې راوړي، د دافغانستان بانک ته ور واستوي.

### د رایجو پیسو موجودي او خپرونو پلان

### څلویښتمه ماده:

د دافغانستان بانک مکلف دی د رایجو پیسو د زېرمو موجودي مستقیماً اداره او د نشر پلان ترتیب او د افغانستان د اقتصاد دپولي اړتیاوو د تأمینو لو لپاره د بانکنوټونو او سکو له کافي وړاندې کونې څخه ډاډ ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خپرو شوو پیسو د حسابداری کړنلاره**

**یوڅلوېښتمه ماده:**

د دافغانستان بانک په حسابونو کې تر دوران لاندې بانکنوټونه او سکې د هغه دبدیهی په حساب معامله کېږي.

د دافغانستان بانک په خزانه کې زېرمه شوي بانکنوټونه او سکې پدې بدیهیو کې شامل ندي.

**د رایجو پیسو راټولول**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک کولای شي، د معادلو بانکنوټونو او سکو په صادرولو سره، د بانکنوټونو یا سکو د راټولولو او له دوران څخه د ایستلو په هکله تصمیم ونیسي. دغه تصمیم د هغې کړنلارې مطابق چې د دافغانستان بانک لخوا وضع کېږي او په هغې کې هغه ځای، نېټه او ساعتونه چې بانکنوټونه او سکې د بدلونې لپاره وړاندې کېږي مشخصېږي او د مبادلې په کړنلارې پورې اړوندې موضوعګانې ترتیب او تنظیمېږي.همدارنګه د هغو اشخاصو د پیژندنې په هکله چې بانکنوټونه او سکې د مبادلې لپاره وړاندې کوي قواعد او شرایط او په مبادله پورې اړوند سندونه او مدارک ټاکي او د جعلي نوټونو په نسبت چې د مبادلې لپاره وړاندې شي، د چلند (برخورد) ډول ټاکي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د مبادلې د دورې په پای یا په بل وخت کې چې د کړنلارې مطابق مشخصېږي تعویض شوي بانکنوټونه او سکې، له دوران څخه بهر (خارج) او قانوني اعتبار یې ساقطېږي.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې تصمیم، په هېواد کې د رایجو پیسو د نوم او د اسمي ارزښت د تغییر په منظور د قانون د تطبیق یا نورو مقصدونو لپاره نیول کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه يمه برخه
## د محاسبې او ورکړې (پرداخت) وړ پيسې

### دولتـي حسـابونه او الزامي ورکړې
### دري څلوېښتمه ماده:

(۱) دولتي بودجه، مـالي سوابق او هغه حسابونه چې د هېواد د نافـذه قوانينـو پـر بنسټ الزامـي ګڼـل کېـږي او پـه افغانـستـان کې رامنځتـه کېږي يا ساتل کېږي، د هېواد په رايجو پيسو دي يا د هغو پر بنسټ ارزول کېـږي، د اسـعارو د تأديـاتو د مکلفيتونـو لـه اجـراء پرتـه، پـه جزايي مسائلو يا نورو قضائي اقداماتو کې د ايجاب په صورت کې د پيسو ورکول (تأديه کول)، د هېواد په رايجو پيسو صورت مومي.

(۲) الزامي ورکړې په افغانۍ ارزول او ورکول کېږي.

الزامي ورکړه له هغې ورکړې څخه عبارت ده چې دولت تـه يا د دولت لخوا صورت مومي، د هغو ورکـړو پـه استثنی چې د قـرارداد يا بلې داوطلبانـه معـاملې پـه اثـر سـرته رسـېږي، پـه الزامـي ورکـړو کـې د محکمې د حکم پـه اثـر يـا د قـانون مطـابق د مـالياتو (مـستقيمه او غيرمـستقيمه) ورکـړه، ګمرکـي عـوارض، فيـسونه، حـق الزحمـې، لګښتونه او جريمې او د عـامې سوکـالۍ د خـدمتونو لپـاره هـر ډول ورکړه شامل دي.

### په تقنيني سندونو کې ذکر شوي مبالغ، ارزښت اېښودنه او تعويض
### څلورڅلوېښتمه ماده:

(۱) په تقنيني سندونو کې ذکـر شـوی مبلـغ، د هېـواد لـه رايجـو پيـسو څخه عبارت دی، خو دا چې بل ډول اټکل شوی وي.

(۲) که چېرې په تقنيني سندونو، کنوانسيون يا د افغانستان لخوا پـه عقـد شـوي قـرارداد يـا موافقـه ليـک کـې، د هېـواد پـه رايجـو پيـسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرنیو اسعارو د بدلولو له ډول څخه یادونه شوې نه وي، د دافغانستان بانک کولای شي، د اړوندو مقرراتو مطابق، د نوموړو اسعارو په افغانۍ د معادل ارزښت د ټاکلو یا محاسبې وسیله یا تګلاره مشخصه کړي.

(۳) د د افغانستان بانک کولای شي په ګمرکونو او مالیاتي مکلفیتونو یا نورو ورکړو پورې د اړوندو قوانینو د ادارې، اجراآتو او تطبیق په منظور، د مقرراتو مطابق، د نورو هېوادونو د رایجو پیسو معادل ارزښت او د تسعیر وسیله یا روش یا د هغو محاسبه د یوې ورځې یا اوږدې مودې لپاره یا په دوامدار شکل سره مشخصه کړي.

(۴) په هغه صورت کې چې د دې قانون د حکمونو مطابق، د هېواد د رایجو پیسو د اسمي ارزښت د تغییر تصمیم ونیول شي، رسمي ارزښتونه په تولو سوابقو، حسابونو، ورکړه ایزو (تأدیاتي) مکلفیتونو، بدیهیو، آفر اخیستنو (داوطلبیو) او نورو تقنیني سندونو کې د تغییر موندلي اسمي ارزښت د مبادلې د نرخ مطابق، د اعتبار وړ دي.

**قراردادونه**

**پنځه څلویښتمه ماده:**

د قرارداد، خرڅلاو، ورکړې، برات، بها لرونکي سند یا سندونو، عمل، معاملې او نور مواردو په اړه چې په پیسو، د پیسو په ورکړې یا د پیسو د ورکړې په مکلفیت پورې مربوط وي. د هېواد په رایجو پیسو صورت مومي د دې قانون په شپږ څلویښتمه ماده کې درج شوي موارد له دې حکم څخه مستثنی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رایجو پیسو په اړه آزادي**

**شپږ څلوېښتمه ماده:**

(۱) د قرارداد خوا وې (طرفین) یا نورې داوطلبانه معاملې (برات، حجت، بها لرونکی سند یا سندونه) کولای شي د خپلو تأدیاتي مکلفیتونو د ورکړې په هکله، له هر سعر سره موافقه وکړي.

(۲) طرفین کولای شي خپل موافقه لیک د محیطي شرایطو پر بنسټ (د سوداګرۍ عرف، د معاملې تګلوری او د معاملې اجراء) په څرګنده یا ضمني توګه عقد کړي.

**د اسعاري تأدیاتي مکلفیت تنفیذ**

**اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱) اسعاري تأدیاتي مکلفیت د هغه د شرایطو مطابق نافذ یږي. په هغه صورت کې چې حکمي شخص د بهرنیو اسعارو په ورکړه مکلف شي او د حکم پر بنسټ ایجاب کړي چې ورکړه د هېواد په رایجو پیسو چې په بهرنیو اسعارو باندې د تأدیاتي مکلفیت د پېرودنې لپاره کافي وي، صورت ومومي، نوموړی مبلغ د هېواد له بانکونو څخه د یوه په واسطه د افغانۍ د اعلام شوي نرخ په اساس، د لومړۍ کاري ورځې په پای کې له هغې ورځې د مخه چې ورکړه یې د داین په واسطه ترلاسه کېږي، محاسبه کېږي. د دې مادې (۳) او (۴) فقره لدې حکم څخه مستثنی دي.

(۲) نورې ورکړې چې د دې مادې د (۱) فقرې مطابق صورت مومي، د مبادلې د نرخ په اړه، په ذکر شوې فقره کې درج شوی حکم د تطبیق وړ دی.

(۳) په هغه صورت کې چې د اسعاري تأدیاتو د مکلفیت په تنفیذ پورې د اړوندو اجراآتو په بهیر کې، محکمه ومومي چې د هېواد په رایجو پیسو د پور د مبلغ تبدیلول، د دې مادې د (۱) فقرې مطابق دواړو خواووته غیر عادلانه دي، کولای شي د هېواد په رایجو پیسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه مبلغ د ورکړې حکم چې د بهرنیو اسعارو د تأدیې مکلفیت لپاره کافي وي، د هېواد د یوه بانک په واسطه د افغانۍ د ټاکل شوي نرخ په اساس، په بله ورځ چې محکمه هغه عادلانه وبولي، صادر کړي، محکمه مکلفه ده د داسې تبادلې د نرخ دستور ورکړي چې د داین حق تأمین شي او د مدیون په ګټه له فیصلې څخه چې د خپلې ورکړې مکلفیت یې ځنډولی دی ډډه وکړي. د دې مادې (۴) فقره لدې حکم څخه مستثنی ده.

(۴) په هغه صورت کې چې په هېواد کې د تنفیذ وړ تأدیاتي مکلفیت، په افغاني رایجو پیسو باندې د یوه بهرني سعر د مبادلې نحوه ټاکلې وي، محکمه د مبادلې هماغه نحوه مرعي الاجراء ګرځوي.

## دریمه برخه
## جرمونه

### جعلي پیسې
### اته څلوېښتمه ماده:

په جعلي پیسو کې لاندې اقلام شامل دي:

۱- جعلي سکه یا بانکنوټ چې رایجې سکې یا بانکنوټ ته ورته وي، یا د هغو په عوض واخیستل شي.

۲- منقش یا سپین بانکنوټ څه بشپړوي یا نه وي.

۳- واقعي سکه یا بانکنوټ په داسې ډول لاس وهل شوی یا تغییر موندلی وي چې هغې رایجې سکې یا بانکنوټ ته ورته شي چې لوړ اسمي ارزښت لري یا د هغه په عوض واخیستل شي.

۴- هغه رایجه سکه چې ځنځیره یې د سوانکارۍ یا د څنډو غوڅولو په واسطه لیرې (اخیستل) شوې وي او ځنځیره یې پرمخ عوض شوې وي چې ظاهر یې اعاده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- هغه سکه چې د سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو پوښښ ورکړل شوی وي، څو د سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو سکې ته ورته شي یا د هغو په عوض واخیستل شي.
۶- سکه یا د فلز ټوټه یا د فلزاتو مخلوط چې د سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو ظاهري شکل ولري یا د فلز اوبه ورکړل شوې یا رنګ شوي وي څو سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو ته ورته شي یا د هغو پر ځای واخیستل شي.
۷- جعلي قیمت لرونکي توکن (نښه) له جعلي مالیاتي مهر، جعلي پستی ټکټ یا ارزښت لرونکې جعلي شهادتنامې څخه عبارت دي چې د فني، مبتذل یا غولوونکي نوم په واسطه ډیزاین شوی وي .په دغه حکم کې واقعي کاغذي پیسې چې د پیسو په عنوان ارزښت نلري هم شاملې دي.

**د پیسو جعل**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

هغه شخص چې جعلي پیسې جوړې کړي یا یې په جوړولو اقدام وکړي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او د واکمنې محکمې لخوا په طویل حبس محکومېږي.

**د جعلي پیسولرل**

**پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثباتول ئی د ده پخپله غاړه دي له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، مجرم ګڼل کېږي او په طویل حبس محکومېږي:
۱- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې وپېري یا یې ترلاسه کړي یا یې د پېرودلواو پلورلو وړاندیز وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې ترخپل حیازت یا مالکیت لاندې ولري.
۳- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې هېواد ته دننه وار دې کړي.
(۲) هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات یې ده په خپله غاړه دی، د سرو زرو یا سپینو زرو براده، برش یا استوانه یا هغه په ګردي صورت، محلول یا په بل شکل سره تر خپل حیازت یا مالکیت لاندې ولري چې د سرو زرو یا سپینو زرو د رایجو سکو د معیوبولو، کمولو یا سپکولو په واسطه تولید یا لاسته راغلي وي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، د احوالو مطابق په هغه حبس چې له پنځو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

**د سکو ویلې (ذوب) کول**

**یو پنځوسمه ماده:**

(۱) هېڅ شخص نه شي کولای د هېواد رایجه او قانوني سکه ویلې کړي، ماته یې کړي یا یې له رایجې پیسې پرته په بل عنوان استعمال کړي، خو دا چې جواز یې د دافغانستان بانک څخه اخیستی وي.
(۲) هغه شخص چې د دې مادې د (۱) فقرې حکم یا په جواز کې درج شوي شرایط نقض کړي د جرم مرتکب ګڼل کېږي په حبس چې له یوه کال څخه زیات نه وي یا نقدي جریمه چې له پنځه ویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا په دواړو په جزاء محکومېږي. محکمه کولای شي د هغو وسایلو په مصادرې چې جرم د هغو په واسطه یا له هغو سره په رابطه کې صورت موندلی دی هم حکم وکړي.

**په جریان کی اېښودل (جریان ته وړاندې کول)**

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې د قانوني عذر له لرلو پرته چې اثبات یې د هغه په خپله غاړه دی یو له لاندې اعمالو څخه سرته ورسوي، د جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرتکب ګڼل کېږي او د واکمنې محکمې طویل په اوږده حبس محکومېږي:

۱- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې دوران ته وړاندې کړي یا یې دوران ته د وړاندې کولو لپاره عرضه کړي یا جعلي پیسې د واقعي پیسو په شان استعمال کړي.

۲- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې له افغانستان څخه وباسي.

(۲)هغه شخص چې د خلکو د تېر ایستلو لپاره او په آګاهانه توګه غیر قانوني سکه یا د فلزاتو مخلوط چې د اندازې، شکل یا رنګ له نظره یوې رایجې سکې ته ورته وي او د رایجې سکې په عوض یې جریان ته وړاندې کړي، په هغه حبس چې له دوو کلونو څخه زیات نه وي محکومېږي.

### فلزي ټوټې او توکنونه

### دري پنځوسمه ماده:

هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات یې د ده په خپله غاړه دی، داسې شیان جوړکړي، تولید یې کړي، ویې پلوري یا یې په خپل حیازت کې ولري چې هدف یې په تیر ایستونکې توګه د هغو قیمت لرونکو توکنونو پر ځای استعمالول وي چې ماشینونه او وسایل د هغو په وسیله فعالېږي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، په هغه حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي یا نقدي جریمه چې له دوولسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا په دواړو په جزاء محکومېږي.

### له شکل څخه غورځول یا معیوبول

### څلور پنځوسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې لاندې عملونه سرته ورسوي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او د طویل حبس په جزاء محکومېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په هغه صورت کې چې د سرو زرو یا د سپینو زرو سکه پدې منظور چې د سرو زرو یا سپینو زرو د رایجې سکې پر ځای وګڼل شي، معیوبه کړي، کمه یې کړي یا یې سپکه کړي.
۲- د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې سکه آګاهانه جریان ته وړاندې کړي.
(۲) هغه شخص چې یو له لاندې عملونو څخه سرته ورسوي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، په هغه حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي یا په نغدي جریمه چې له دوولسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا په دواړو په جزاء محکومېږي:
۱- په هغه صورت کې چې رایجه سکه له شکل څخه وغورځوي.
۲- په هغه صورت کې چې رایجه سکه چې له شکل څخه غورځېدلې ده، په دوران کې واچوي.
۳- په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک له استیذان پرته یو بانکنوټ د چاپولو (طبع کولو)، مهر کولو، د هغو له پاسه د کلیمو یا خطونو او تصویرونو د نښلولو په وسیله له شکل څخه وغورځوي.
۴-په هغه صورت کې چې رایج بانکنوټ چې د دې مادې د (۱) فقرې د (۳) جزء مطابق چې له شکل څخه غورځول شوی دی، دوران ته وړاندې کړي.

**دبانکنوټونو ورته جوړونه**
**پنځه پنځوسمه ماده:**
(۱) هېڅوک نشي کولای د الکترونیکي وسایلو یا کمپیوتر په مرسته یا په بل ډول داسې شیان جوړ، خپاره، چاپ، اجراء، صادر او یا یې په جریان کې واچوي چې له لاندې اقلامو څخه یوه ته ورته وي:
۱- رایج بانکنوټ.
۲- د پور بهالرونکی سند یا د دولت یا بلې مالي مؤسسې بهالرونکي سندونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) لاندې اشخاص، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثنی دي:
۱- د دافغانستان بانک یا یې کارکوونکي، د دندې د اجراء په وخت کې.
۲- پولیس، د دندې د اجراء په وخت کې.
۳- هغه شخص چې د قرارداد یا جواز په اساس، د دافغانستان بانک یا پولیسو لخوا عمل کوي.
(۳) هغه شخص چې د دې مادې د (۱) فقرې کې درج شوی حکم نقض کړي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او په هغه حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وی یا نقدي جریمه چې له دوولسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا په دواړو په جزاء محکومېږي.
(۴) هېڅ شخص د هغه ورته بانکنوټ د چاپ په اړه چې د دافغانستان بانک لخوا صادر شوی دی، په لاندې مواردوکې د دې مادې د (۳) فقرې مطابق، په مجازاتو نه محکومېږي، په هغه صورت کې چې معلومه شي چې د هغه ورته بانکنوټ اوږده اوسور، د جاري بانکنوټ له اوږدو او سور څخه درې پر څلور یا له یونیم برابر څخه زیات وي:
۱- اړوند شکل یوازې تور او سپین وي.
۲- ورته والی یوازې د ورته بانکنوټ پر یوه مخ باندې ښکاره شوی وي.

**وسایل یا مواد**

**شپږ پنځوسمه ماده:**

هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات یې د هغه په خپله غاړه دی د ماشین، انجن، ابزارو، وسایلو، موادو یا شیانو چې پوهېږي د پیسو، قیمت لرونکو جعلي توکنونو د جوړولو لپاره په کار وړل کېږي یا وپوهېږي چې د دغه ډول ګټې اخیستنې لپاره برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي او هغه جوړ کړي، ترميم يې کړي يا يې په جوړولو يا ترميمولو لاس پورې کړي يا يې په خپل حيازت کې ولري د جرم مرتکب ګڼل کېږي، په طويل حبس محکومېږي.

**له ضرابخانې څخه د ضرب وهلو د وسايلو لېږدول**

**اووه پنځوسمه ماده:**

هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات يې د هغه پخپله غاړه دی، په آګاهانه توګه يو له لاندې شيانو څخه د قانوني فعاليت له جواز لرونکې ضرابخانې څخه بهر کړي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، او په طويل حبس محکومېږي:

۱- ماشين، انجن، ابزار، وسايل، مواد يا هغه شيان چې د سکې په جوړولو کې ورڅخه ګټه اخيستل کېږي يا په کار وړل کېږي.

۲- د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو شيانو کې د ګټې اخيستنې وړ جزء.

۳- سکه، د فلز استوانه يا د فلزاتو مخلوط.

**اعلان، سوداګري**

**اته پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې يو له لاندې عملونو څخه سرته ورسوي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او له احوالو سره سم هغه په حبس چې له پنځو کلونو څخه زيات نه وي، محکومېږي:

۱- د جعلي پيسو يا قيمت لرونکو توکنونو د خرڅلاو، برابرولو يا لېږدونې د وړانديز يا د ګټې اخيستنې د ډول يا د هغو وسايلو په اړه چې د هغو په واسطه جعلي پيسې يا قيمت لرونکي توکنونه خرڅ، برابر يا لېږدول کېداې شي، د اطلاعاتو د هر ډول اعلان يا اشتهار خپرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د قیمت لرونکو جعلي توکنونو پېرودل یا لاس ته راوړل یا د قیمت لرونکو جعلي توکنونو د پېرودلو یا لاس ته راوړلو په هکله مذاکره یا د مذاکرې وړاندیز یا د هغو په اړه په بل ډول د ارتباط نیول.

(۲) هېڅوک د دې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق د واقعي سکې یا بانکنوټ په اړه چې د پیسو په عنوان ارزښت نه لري، د جرم په ارتکاب نه محکومېږي، خو دا چې وپوهېږي چې نوموړې سکه یا بانکنوټ د پیسو په عنوان ارزښت نه لري او د هغو په اړه خدعې او تېر ایستنې وجود ولري.

**د اثبات په هکله اختصاصي حکمونه**

**نهه پنځوسمه ماده:**

(۱) د پیسو یا قیمت لرونکو توکنونو په اړه جعل کاري، د هغو د نه ورته والي، د مودې د تېرېدو (انقضاء) او تبادلې با وجود، بشپړ جرم ګڼل کېږي.

(۲) د دافغانستان بانک د مؤظف شخص لاسلیک، په افغانستان یا نورو هیوادونو کې د پیسو یا قیمت لرونکو توکنونو د جعلي یا واقعي توب، رایج یا نه رایج والي د اثبات په رابطه کې، د جعل کارۍ د څېړنې په اړه کافي دی، د لاسلیک کوونکي شخص د رسمي مشخصاتو اثبات ته اړتیا نشته.

(۳) هغه اړخ (لوری) چې د دې مادې په (۲) فقره کې درج تصدیق پاڼه د هغه په خلاف وړاندې شوېده، کولای شي د محکمې په اجازه، د متقابل تحقیق په منظور، د جعلکارۍ د تحقیق کوونکي حضور وغواړي.

(۴) د دې مادې په (۲) فقره کې درج تصدیق پاڼه د مدرک په توګه نه پېژندل کېږي، خو دا چې هغه لوری چې د هغې د وړاندې کولونیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـري، د محـاكمې لـه بهيـر د مخـه يـې مقابـل لـورى خبـر كـړى او د تصديقپاڼې يوه نسخه يې هغه ته وراستولې وي.

**د بانكنوټ، سكې، سندونو او نښو (توكنونو)غير مجاز خپرول**

**شپېتمه ماده:**

هغه شخص چې يو بـانكنوټ يـا سكه، د دې قـانون د ځلور دېرشمې مادې په (۱) فقره كې لـه درج شوي حكم سره پـه تنـاقض كې يـا نـور سندونه يا توكنونه چې په افغانستان كې د خپرولو پـه منظور تـر ګټې اخيــستنې لانــدې نيــول كېــږي، خپــاره كــړي، پــه طويــل حــبس محكومېږي.

**مصادره**

**يوشپېتمه ماده:**

(۱) **جعلـي** بانكنوټونـه، سـكې، سـندونه او نـښې يـا قيمـت لرونكـي توكنونه او هغه وسايل چې د جوړولو لپـاره تـر ګټې اخيستنې لانـدې نيول كېږي يا پدې منظور برابر شوي وي، مصادره كېږي.

(۲) پوليس كولاى شي لاندې شيان ضبط كړي اوويې ساتي:

۱- **جعلي** پيسې.

۲- **جعلي** قيمت لرونكې نښې.

۳- ماشـينونه، انجنونـه، ابـزار، وسـايل يـا هغـه شـيان چـې د **جعلـي** پيسو يا قيمت لرونكو توكنونو د جوړولو لپاره په كـار وړل شـوي يـا د هغو دګټې اخيستنې لپاره اختصاص كړى شوي يا د هغـو د توليـد پـه مقصد جوړ شوي دي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره كې درج ضبط شوي شيان، د محوه كولـو يــا د بــل منظــور لپــاره چــې واكمــن مقامونــه يــې لازم وبــولي، د دافغانستان بانک ته استوي. هغه شيان چې ساتل يې د جرم د اثباتيـه مدرک په توګه اړين وګڼل شي له دې حكم څخه مستثنى دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) بانکنوټ، سکه، سند یا د دې مادې له (۱) فقرې سره په تناقض کې نورې نښې چې د پیسو په توګه په دافغانستان بانک کې د دوران لپاره په پام کې نیول شوي وي، جعلي ګڼل کېږي.
هغه موارد چې د دې فصل د حکمونو مطابق، مجاز ګڼل شوي دي له دې حکم څخه مستثنی دي.

## پنځم فصل
## پولي دندې او فعالیتونه

### پولي سیاست
**دوه شپېتمه ماده:**
د دافغانستان بانک، د هېواد د پولي سیاست د طرح، تر لاس لاندې نیولو او اجراء مسئول دی.

### د آزاد بازار عملیات
**دري شپېتمه ماده:**
د دافغانستان بانک د خپل پولي سیاست په اجراء کې کولای شي د آزاد بازار له لارې د تبالې وړ بهرنیو اسعارو، د دولت لخوا خپرو شوو د پور د بها لرونکو سندونو، په قطعي پېرودنه او پلورنه (د فوري یا د مخکنۍ پېرودنې) او یا د بیا پېرودنې د قرارداد په موجب، له خپل لوري اقدام وکړي. پدې هکله له نورو اسعارو او بها لرونکوسندونو څخه ګټه نشي اخیستل کېدی.

### د بانکونو الزامي زېرمې
**څلورشپېتمه ماده :**
(۱) د دافغانستان بانک د خپل پولي سیاست په اجراء کې کولای شي بانکونه مکلف کړي، په دافغانستان بانک کې سپارنې (اجباري زېرم) کېږدي. د دغو سپارنو حد اقل میزان د مقدار، ډول یا د سپارنو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر رسید ، د ترلاسه شوو پورونو د وجوهو او د بانکونو د نورو بدیهیو پر بنسټ چې د دافغانستان بانک یې لازم وبولي د اړوندو مقرراتو مطابق ټاکي. د بدیهیو په وړاندې د الزامي زیرمې میزان، د ټولو بانکونو لپاره یوشان دی.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي د نقدي سپارنو یا د بانکونو د نورو پولي سپارنو میزان چې په دافغانستان بانک کې یې د الزامي زیرمو په توګه لري او هغه وخت موده چې د موجودو الزامي زیرمو د میزان د ټاکلو لپاره د ورځنیو بیلانسونو اوسط تثبیتیږي، د اړوندو مقرراتو مطابق وټاکي.

د دافغانستان بانک کولای شي د اجباري زیرمو لپاره ګټه (مفاد) وټاکي.

(۳)ددې مادې په (۲) فقره کې په درج شوو مقرراتو کې چې دهغو په موجب الزامي زیرمې ټاکل کیږي یا تغییرات پکې راځي، هغه نېټه چې بانکونه نوې زیرمې یا دهغو میزان رعایت کړي هم ټاکل کیږي .

## د الزامي زیرمو له تأمینولو څخه سرغړونه

### پنځه شپېتمه ماده:

په هغه صورت کې چې بانکونه، د دې قانون په څلور شپېتمه ماده کې د درج شوو الزامي زیرمو له حداقل تأمینولو څخه ډډه وکړي، د دافغانستان بانک کولای شي د کمښت تر جبرانه پورې، جریمه چې اندازه یې د دافغانستان بانک د مقرراتو مطابق ټاکل کیږي، اعمال کړي.

## د تنزیل عملیات

### شپږشپېتمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک کولای شي یوازې لاندې بانکي وړاندې شوي سندونه چې له افغانستان بانک سره حساب ولري راټیټ (تنزیل) کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- برات او حجت چې د پیسو واحد یې افغانۍ او په هېواد کې د ورکړې وړ وي او حداقل د دریو لورو (طرفونو) چې د خپلو دیونو د ورکړې وړتیا لري او لږ ترلږه له هغو څخه یو لوری یې بانک وي، د لاسلیک لرونکي وي او د سررسید موده یې، د دافغانستان بانک په واسطه د هغو د ترلاسه کولو له نېټې څخه له دریو میاشتوڅخه زیاته نه وي.

۲- په استثنایي مواردو کې د دافغانستان بانک کولای شي، د دې فقرې په (۱) جزء کې درج شوي سندونه، په هغه صورت کې چې حداقل د دوو لورو چې د خپلو دیونو د ورکړې وړتیا لري او له دې جملې یو لوری یې بانک وي د لاسلیک لرونکي وي او د سر رسید موده یې، د دافغانستان بانک په واسطه د هغو له تر لاسه کولو څخه له دریو تر شپږو میاشتو پورې زیاته نه وي.

۳- د پور بها لرونکي سندونه چې د دولت یا د دافغانستان بانک په واسطه صادر یا ضمانت شوي، د خرڅلاو لپاره ټولو (عمومو) ته د پور د وړاندې شوو بها لرونکو سندونو جزء او د افغانستان په قلمرو کې د ورکړې وړ وي او پولي واحدیې افغانۍ او د سررسید موده یې د دافغانستان بانک په واسطه د اخیستلو له نېټې څخه درې میاشتې وي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي د تنزیل عملیات، د نورو شرایطو او مقرراتو (د تنزیل د نرخ په شمول) چې د دافغانستان بانک لخوا وضع کېږي، تابع دي.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شي، د دې مادې په (۱) او (۲) فقره کې د درج شوو سندونو د هر یوه له تنزیل څخه، ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پورونو ورکول**

**اووه شپېتمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک کولای شي، د اړوندو شرایطو او مقرراتو مطابق، د دریو میاشتو تر مودې پورې نورو بانکونو ته پور ورکړي، پدې شرط چې په دافغانستان بانک کې حساب ولري او د هغو د لاندې شتمنیو څخه د یوې په واسطه تضمین شي:

۱- د دې قانون په دوه اویایمه ماده کې درج اسعاري زېرمې.

۲- د پور بها لرونکي نور سندونه چې د دولت لخوا صادر یا ضمانت شوي وي او په هېواد کې ټولو ته د وړاندې شوو د پور د بها لرونکو سندونو جزء په افغاني پیسو د ورکړې وړوي.

۳- د مالونو د ګدام رسیدونه، د کالیو یا لومړنیو موادو یا نورو جنسونو چې د نابودۍ او زیان په وړاندې بیمه شوي وي د مالکیت سندونه.

۴- له دافغانستان بانک یا د دافغانستان بانک ته د منلو وړ سپارنو اخیستونکو سره موجودې، له هغو ډول ډول شتمنیو څخه جوړې (مرکبې) سپارنې چې د دافغانستان بانک یې، د دې قانون د حکمونو مطابق، د هغو په پېرودلو، پلورلو یا معاملې مجازوي، د سرو زرو او نورو قیمتي فلزاتو او کریمه احجارو په شمول.

(۲) هغه بانکونه چې له دافغانستان بانک سره حساب لري، په افغانستان کې یوازې د دوی مرکزي دفترونو ته پور ورکول کېږي.

**د تنزیل یا پور نرخونه**

**اته شپېتمه ماده:**

د دافغانستان بانک د تنزیل او پور نرخونه، د هغو مقرراتو مطابق چې د دافغانستان بانک یې وضع کوي، ټاکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم فصل
## د اسعارو د نرخ او کنترول سیاست

### کلي سیاستونه
**نهه شپېتمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک د هېواد د اسعارو د نرخ د سیاست د طرح کولو تر لاس لاندې نیولو، تنظیمولو او اجراء کولو مسئول دی، مکلف دی چې په دې هکله له تصمیم نیونې څخه د مخه د مالیې له وزارت سره مشوره وکړي.
(۲) د دافغانستان بانک د افغانستان د استازي په توګه د اسعارو د کنترول په اړه د له هېواد د اړوندو نافذه قوانینو مطابق عمل کوي.
هغه رسېدلي رپوټونه، د حساباتو صورتونه یا اطلاعات چې لازمي وګڼل شي، د دافغانستان بانک لخوا وړاندې کېږي.

### مکلفیتونه
**اویایمه ماده:**

د دافغانستان بانک د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:
۱- په هېواد کې د اسعارو د نرخ د سیاست او د اسعارو د بازار د فعالیتونو د اجراء کولو او لپاره د مقرراتو، لایحو، دستورالعملونو یا لازمو لارښوونو وضع کول.
۲- د دې قانون د اووه اویایمې مادې مطابق د صرافانو، بانکونو او نورو مالي مؤسسو د جواز ثبتول او صادرول او د هغوی د اړوندو چارو څارنه او تنظیمول.
۳- د اسعارو، صرافانو او بانکونو د وضعیت په اړه د حدودو ټاکل.
۴- د اسعارو د لیلام د مجلس د دایرولو سازمانول.
۵- د افغانستان د نړیوالو زېرمو اداره کول او ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تصفيې قراردادونه او نړيوالې ورکړې**

**يو اويايمه ماده:**

د دافغانستان بانک کولی شي چې ځانته يا د دولت په استازيتوب، په بهر کې مېشتو دولتي او خصوصي تصفيوي مؤسسو سره، تصفيوي او د ورکړې موافقت ليکونه او نور قراردادونه عقد کړي.

**اسعاری زېرمې**

**دوه اويايمه ماده :**

(۱) د دافغانستان بانک د هېواد اسعاري زېرمې چې د لاندې شتمنيو له ټولو يا يوې برخې څخه جوړې دي، رامنځته کوي او ساتي يې:

۱- سره زر، کريمه ډبرې او نور ګران بيه فلزات.

۲- بانکنوټونه او د آزادې تبادلې وړ اسعار او سکې.

۳- د دافغانستان بانک په حسابونو کې موجود مبالغ چې د بهرنيو مرکزي بانکونو يا نورو مالي مؤسسو په دفترونو کې د آزادې راکړې وکړې وړ اسعارو په ډول ساتل کېږي.

۴- د پيسو د نړيوال صندوق څخه د اخيستلو (برداشت) د حق مجموعي مبلغ چې د دولت لخوا ساتل کېږي.

۵- برات، حجت، تعهدي نوټونه، د سپارنې سندونه، د پور سندونه او د پور نور بها لرونکي سندونه چې په تبادلې وړ اسعارو د ورکړې وړ وي.

۶- د مخکنۍ پېرودنې يا بيا پېرودنې قرارداد ، د دافغانستان بانک د اسعارو د بدلونې (معاوضې) قرارداد چې د بهرنيو مرکزي بانکونو يا نړيوالو مالي سازمانونو لخوا ترسره شوي يا ضمانت شوي وي، مستقبلی او د اختيار قراردادونه او نور قراردادونه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دافغانستان بانک ته د تبادلې وړ بهرنیو اسعارو د لاسته راوړنې حق ورکوي.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی چې خپله بین المللی زېرمه تر هغه حده وساتې چې د افغانستان د پولي سیاستونو او اسعاري نرخونو د اجراء کولو او د بین المللی معاملو د په وخت غوښتنې د تسوئې لپاره کفایت وکړي.

(۳) په هغه صورت کې چې د دې مادې په (۲)فقره کې درج شوې نړیواله زېرمه داسې راکمه شي یا د سقوط د خطر په حال کې وي چې د پولي یا اسعاري سیاستونویا د نړیوالو معاملو د په وخت غوښتنو د تسویې لپاره کفایت ونه کړي، د دافغانستان بانک اصلاحي تدبېرونه په نظر کې نیسي او د موضوع رپوټ د وضعې د اغېزمن ښه والی لپاره د حل د لارو چارو له وړاندیز سره یو ځای د وزیرانو شوري ته وړاندې کوي.

(۴) د دافغانستان بانک مکلف دی چې د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوې وضعې تر لیرې کېدو پورې، اصلاحي اقداماتوته دوام ورکړي او رپوټونه او لازم وړاندیزونه وړاندې کړي.

**د نړیوالو اسعاری زېرمو ترلاسه کول، ساتل او لېږدول**

**دري اویایمه ماده:**

د دافغانستان بانک د بانکداری په قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق کولی شي چې د دې قانون د دوه اویایمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي نړیوالو اسعاري زېرمو د تر لاسه کولو، ساتلو او لېږدولو لپاره لازم اقدامات تر سره کړي او د نړیوالو پېژندل شوو ښو معیارونو مطابق هغه اداره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسعاري بديهيو محدود والی**

**څلوراويايمه ماده:**

د دافغانستان بانک نه شي کولای د خپلو (بديهيو) زياتوالی، چې په اسعارو د ورکړې وړوي، په هغه صورت کې چې د هغې په نتيجه کې د دغو بديهيو مجموع د هغه د لاس نه خوړونکې پانګې او اسعاري زېرمې د مجموع مبلغ په سلوکې له پنځوس څخه زيات سره معادل شي اجازه ورکړي.

**د اسعارو صرافان**

**پنځه اويايمه ماده:**

(۱) د اسعارو صرافان مکلف وي چې د فعاليت جواز له دافغانستان بانک څخه واخلي.

(۲) د جواز د ورکړې، ثبتولو، ردولو او لغو کولو ډول د مربوطو مقرراتو مطابق تنظيمېږي.

(۳) لاندې اشخاص د دې مادې د (۱) فقرې له حکم څخه مستثنی دي:

۱- د افغانستان بانک.

۲- بانکونه.

۳- ټاکلي اشخاص د هغو د طبيعت د دليل، د راکړې ورکړې د اندازې او موقعيت ياپې د مشتريانو د ډول له مخې.

(۴) هغه معافيتونه چې د دې مادې د (۳) فقرې په (۳) جزء کې درج شوو اشخاصو ته ورکول کېږي، مشروط يا د وخت له نظره محدود يا قسمي وي او هغه خدمتونه چې د هغوی لخوا تر سره کېږي يا نه ترسره کېږي، د دافغانستان بانک لخوا فهرست کېږي.

(۵) د اسعارو صرافان مکلف دي چې د دافغانستان بانک قوانين، مقررات، قواعد او ټول (کلاً) او په خاص ډول په لاندې مواردو کې رعايت کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- اړوندې څانګې یا ادارې ته د هغو معاملو په هکله چې ارزښت ئې د دافغانستان بانک په مقرراتوکې درج له ټاکل شوي حداقل مبلغ څخه زیاتی وکړي، د معلوماتو ورکول.
۲- د مشتریانو په هکله د معلوماتو راټولول او په مربوطو دوسیو کې د هغو ثبتول او ساتل.
۳- د دافغانستان بانک په اړوندو مقرراتو کې د اټکل شوو شرایطو مطابق د خپلو مشتریانو، ادارې، راکړې ورکړې او مالي وضعیت په هکله د مطلوب معلوماتو وړاندې کول.
(۶) د دافغانستان بانک کولی شي د اسعارو د صرافانو د فعالیت جواز او ثبت په هغه صورت کې چې د دې قانون یاد دافغانستان بانک له نورو مقرراتو څخه سرغړونه وکړي یا د جرم مرتکب شي، لغو کړي.

## اووم فصل
## له دولت سره د دافغانستان بانک اړیکي

### بانکدار، سلاکار (مشاور) او مالي استازی
### شپږاویایمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی چې د دولت او د هغو دولتي ادارو او مؤسسو د بانکدار، سلاکار او مالي استازي په توګه عمل وکړي چې د مالیې وزیر یې ټاکي، د دافغانستان بانک نه شي کولای له دولت یا دولتي ادارو او مؤسسو سره د مالي مرستې یا د هغو د ګټو د تأمین په منظور معامله ترسره کړي.
(۲) د دافغانستان بانک د خپلو هدفونو یا د واک او تخصص په ساحه کې د نورو چارو په هکله وړاندیزونه، مخکې لدې څخه چې ملي شورې ته وړاندې شي، د مالیې له وزیر سره پرې مشوره کوي.
(۳) د مالیې وزیر هر کال د دولت د راتلونکي کال د بودجې د جوړېدو په وخت کې له دافغانستان بانک سره مشوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دافغانستان بانک مکلف دي چې د مربوطې بودجې د اقتصادي او مالي مسایلو په هکله لیکلي رپوټ د مالیې وزیر ته ورکړي.
(۴) د دافغانستان بانک د راتلونکي بودجوي کال بودجه طبع او د مالیې وزیر ته یې ورکوي او دولت ته په راتلونکي کال کې د لېږدونې وړ تخصیص په اټکلي توګه ټاکي.

**د دولتي پور اخیستنې (استقراض) په اړه مشوره او رپوټ**

**اووه اویایمه ماده:**

د مالیې وزیر هرکال د راتلونکي مالي کال په اوږدوکې د دولتي کورني او بهرني استقراض د پلان په هکله چې په قرار داد، د وېش په برنامه او د قرار داد په نورو شرایطو کې درج مبالغ پکې شامل وي له د دافغانستان بانک سره مشوره کوي. دولت او نورې دولتي ادارې او مؤسسې مکلفې دي، د خپلو استقراضی معاملو رپوټ د مربوطو مقرراتو مطابق وړاندې کړي.

**د دولت امین او خزانه دار**

**اته اویایمه ماده:**

(۱) ددافغانستان بانک کولی شي د دولت او نورو دولتي ادارو او مؤسسو دیپازیتونه د مالیې وزارت د تجویز له مخې ومنې او د دولت د امین په توګه حسابونه وساتي، پیسې ترلاسه او ورکړې او نور مالي اړوند خدمتونه تر سره کړي او په مربوطوحسابونو کې د سپارل شوو مبالغو په اندازه د غوښتنې په وخت کې، پیسې ورکړي او موافقه وکړي چې د دي سپارل شوو مبالغو په مقابل کې ټکټانه ورکړي.
(۲) د دافغانستان بانک کولای شي د هغه شرائطو مطابق چې تجویزوي ئې، نورو مالي مؤسسوته د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو سپارنو د لاسته راوړلو واک ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مالي نمايندګۍ فعاليت**

**نهه اويايمه ماده:**

د دافغانستان بانک کولی شي د مالي استازي په توګه، د ماليې د وزير په موافقه د دولت او نورو دولتي ادارو او مؤسسو لپاره لاندې فعاليتونه سرته ورسوي:

۱- د پورتنيو مراجعو لخوا د بهالرونکو سندونو د صادره پورونو لپاره بازار موندل او د هغوې ثبتول او لېږدول.

۲- بها لرونکو سندونو د اصلي پېسو، ټکټاني، حق العمل او نورو لګښتونو ورکول.

۳- له دافغانستان بانک سره د پورتنيو ذکر شوو مراجعو د حسابونو په هکله د ورکړې د معاملو اجراء کول.

۴- د نورو هغو چارو اجراء کول چې د دافغانستان بانک له اصلي هدفونو او دندو سره موافق وي.

**مطلوبه معلومات**

**اتيايمه ماده:**

د دافغانستان بانک کولای شي چې د خپلو دندو د تر سره کولو لپاره له دولت څخه د دلايلو په وړاندې کولو سره هغه اطلاعات او مالي او اقتصادي سندونه غوښتنه کوي، ترلاسه کړي.

**دولت ته د دافغانستان بانک پورونه**

**يو اتيايمه ماده:**

د دافغانستان بانک نه شي کولای، دولت يا نورو دولتي ادارو يا مؤسسو ته هېڅ ډول مالي مرستې برابرې کړي. د دې قانون دوه اتيايمه ماده له دې حکم څخه مستثنی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دولت د پور د بها لرونکو سندونو پېرودل**

**دوه اتیایمه ماده:**

د دافغانستان بانک نه شي کولای د دولت د پورونو صادر شوي بها لرونکي سندونه دولت ته، د دافغانستان بانک د پور په توګه وپېري.

هغــه پېرودنې چې د دافغانستان بانک له پولي سیاست سره مطابقت ولري، یا د دافغانستان بانک د پانګې اچونو لپاره لازم وي او هغه هم یـوازې د دوه یـم لاس پـه بـازار کـې صـورت ونیـسي، لـدی حکـم څخـه مستثنی دي.

## اتم فصل

## له نورو بانکونو سره د دافغانستان بانک اړیکي

**د بانکونو د جواز صادرول، څارنه او تنظیمول**

**دري اتیایمه ماده:**

د دافغانستان بانک د بانکونو د جواز د صادرولو، څارنې او د هغـو د چارو د سمبالولو مسئول دی.

**د بهرنیو بانکونو څارنیزو مقاماتو سره همکاري**

**څلوراتیایمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک د بهرنیو بـانکونو لـه څـارنیزو مقامـاتو سـره د بانکونو د څارنې په اړه د اړوندو متقابلو اړیکیـو پـه اسـاس چـې یـو د بـل د واک پـه حـوزه کـې عمـل کـوي، نېـږدې همکـاري کـوي. دغـه همکاري د دافغانستان بانک او د بهرنیـو بـانکي څارنیزو مراجعـو تـر منځ د همکارۍ د موافقت لیک په صورت کې تر سره کېدلی شي.

(۲) د دې مـادې پـه (۱) فقـره کـې درج شـوې همکـاري د هـر بانـک پـه هکلـه د اطلاعـاتو د تبـادلې پـه ګډون چـې د دواړو د واک د حـوزو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدودو کې فعالیت کوي، تر سره کېدلی شي، په دې شرط چې د پټ والي (سري توب) اصل رعایت کړي.

**په دفترونو کې بانکي حسابونه**

**پنځه اتیایمه ماده:**

د دافغانستان بانک کولای شي تر هغه شرایطو او حدودو لاندې چې په بانکي حسابونو پورې په اړوندو موافقت لیک کې ذکر کېږي، بانکونو، د اسعارو صرافانو د بهالرونکو سندونو د خدمتونو وړاندې کوونکو، د ورکړو د سیستم مجریانو او نورو هغو اشخاصو ته چې د قانون مطابق د دافغانستان بانک تر څارنې لاندې دي، په خپلو دفترونوکې بانکي حسابونه پرانیزي، ویې ساتي او د هغوی ورکړې ومني.

**وروستنی پور ورکوونکی**

**شپږ اتیایمه ماده:**

د دافغانستان بانک کولای شي د ټاکلو شرائطو مطابق، په دافغانستان بانک کې حساب لرونکو کورنیو او بهرنیو مالي مؤسسو ته د وروستنۍ پور ورکوونکې سرچینې په توګه، هغوته د مالي مرستو د ورکړې له لارې یا د ګټو د تأمینولو لپاره په هغه موده کې چې له دریو میاشتوڅخه زیاته نه وي، د پور، معاوضې، بیاپېرودنې (بازخرید) او مشروط تعهد په ډول د دغه قانون په نهه شپېتمه ماده کې د درج شوو شتمنیو په تضمین پورورکړي، مګر دا چې د دافغانستان بانک تصمیم ونیسي چې په استثنایي حالاتو کې د نا تضمین شویو پورونو ورکړه مؤجه ده. د دافغانستان بانک لخوا د پور ورکړه یا ژمنه تر دغو شرائطو لاندې صورت مومي:

۱- پور یا ژمنه د حساب لرونکي او عامه ګټو په سیالیت پورې د اړوندو حکمونو د رعایتولو په منظور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د مـاليې وزيـر د دې مـادې په (۱) جزء کې لـه درج شوي پـور يـا ژمنـې سـره د اړونـد وړانـديز لـه رسـېدلو څخـه وروسـته پـه د (۲۴) ساعتونو کې موافقه کړې وي. د پورونو او ژمنو موده په هغه صورت کـې تمدېدېـدلی شـي چـې د حـساب لرونکـی د سيـاليت پـه هکلـه د دافغانستان بانک شرائط رعايت کړي او د هغه د قناعت وړ وګرځي.

## نهم فصل
## ورکړه، تصفيه او تسويه

### د ورکړې سيستمونه او د هغو مجريان
### اووه اتيايمه ماده:

(۱) د دافغانـستان بانـک مکلـف دی چـې د ورکـړې سـالم او اغېـزمن سيستمونه تأسيس کړي، ويې ساتي او پراختيا ورکړي.

(۲) د دافغانستان بانک د ورکړې پر سيستمونو او د هغو پر مجريـانو باندې د ثبت تنظيم او نظارت کولو مسئول دی.

(۳) د دافغانــستان بانــک کــولای شــي سيــستمونه او د ورکــړې د سيستمونو مجريان وڅاري او د مقرراتو مطابق لاندې مراتب وضع کړي:

۱- د ورکړې سيستمونه او د هغو مجريان د جواز په اخيستلو يا ثبت مکلف کړي.

۲- د ورکـړې سيـستمونه او د هغـو مجريـان د احتيـاطي مقرراتـو پـه ګډون د هغـو مقرراتـو پـه رعـايتولو چـې د ورکـړې پـر سيـستمونو او د هغو مجريانو باندې د دافغانستان بانک د څارنې کولو د آسانولو پـه منظـور، چـې د عامـه شـتمنيو د سـاتلو لپـاره د هغـوی پـه امانـت کـې اېښودل شوې دي، مکلف کړي.

۳- د شــرائطو د درلودلــو د مقرراتــو پــه ګــډون د هغــو شــرايطو او مقرراتو رامنځ ته کول چې د هغو مطابق مـالي مؤسسې او د پـولي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتونو وړاندې کوونکي وکولی شي چې د ورکړې په هر ډول سیستم کې ګډون وکړي.

۴- د ورکړې سیستمونه او د هغو مجریان د هغو نورو مقرراتو د حکمونو په رعایتولو چې د دې فصل په موجب وضع کېږي، مکلف کړي.

(۴) د دې مادې په اساس وضع شوي شرایط او مقررات د هغو په شمول چې د جواز د صادرېدو او ثبت په هکله صراحت لري، کېدی شي د ورکړې د سیستم یا د هغو د مجریانو د یو صنف یا ډول څخه د هغه د بل صنف یا ډول سره متفاوت وي.

(۵) د دافغانستان بانک کولای شي برسېره پر لاندینیو مواردو هغه څه چې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو دندو د تر سره کولو لپاره اړین وبولي ترسره یې کړي:

۱- د ورکړې د سیستم سمبالول، پراخول، ګډون او اجراء کول.

۲- په اړوندو مقرراتو یا موافقت لیکونو کې د درج شوو شرایطو او ضوابطو په اساس په خپلو دفترونو کې د مالي مؤسسو او د ورکړې د سیستمونو د مجریانو د تسویه ئي حسابونو ساتل.

۳- د اړوندو مقرراتو مطابق د کافي رهن په بدل کې حساب لرونکو ته د اضافه اخیستنې (اضافه برداشت) د ورکولو لپاره د آسانتیاوو برابرول.

۴- د هېواد مالي سیستم ته د معلوماتي شبکو جوړول او اجراء کول یا په هغه کې ګډون کول.

(۶) د دافغانستان بانک کولی شي په لاندې مواردوکې لازمې آسانتیاوې برابرې کړي:

۱- د دافغانستان بانک د ورکړې له سیستمونو سره د نورو ورکړو د سیستمونو د متقابلواړیکیو تأمینول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په داخلي راپځو پیسو یا اسعارو باندې د ورکړو د اجراء کولو لپاره د پر مختللې نوې تکنالوژۍ جوړول او ورته پراختیا ورکول.
۳- د هېواد د سراسري ورکړې د سیستم د تدریجي ودې په اړه په منظم ډول د دوامدارو پلانونو طرح کول او تطبیقول.

**د ورکړې د سیستم سیاست**
**اته اتیایمه ماده:**
(۱) د دافغانستان بانک د هېواد د خلکو د ګټو د تأمینولو په منظور په ډېرو ښو نړیوالو معیارونو سره د مالي سیستم د ثبات د تأمینولو لپاره د ورکړې د سیستم سیاست طرح کوي، نیسي او اعلامو یې او د هغه له تطبیق څخه څارنه کوي، چې د هغه لومړنی هدف د ورکړې د سیستم د خوندیتوب او اغېزمنتوب تېنګښت او د ورکړې په سیستم کې د احتمالي خطرونو او زیانونو مخنیوی او کنترولول دي. همداراز دعامه ګټو نور اړخونه، په خاص ډول په بازار کې د ورکړې د خدمتونو د سیستم لپاره د رقابت پراخول او د ورکړې د سیستم د ګټه اخیستونکو ساتنه هم تقویه کوي او تأمینوي ئي.
(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی د ورکړې د سیستم د خوندیتوب او اغېزمنتوب د ودې او تقویې په منظور د ورکړې د سیستم له مجریانو، مرکزي بانکونو او نورو مربوطو کورنیو او بهرنیو مقاماتو سره همکاري وکړي.

**د سیستم داخلي خطرونه او په تسویه کې ډاډ**
**نهه اتیایمه ماده:**
د دافغانستان بانک کولې شي د داخلي خطرونو د مخنیوي او کنترول او د ورکړې په سیستم کې د ډاډ وړ تسوئې ته د رسېدلو لپاره، د لاندې ټکو لرونکي مقررات او خاص دستورالعملونه وضع کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په دوه اړخيزو او څو اړخيزو قراردادونو کې د اړخونو ترمنځ او ټولو ثالثو اړخونو پرعليه د تعهداتو او موافقت ليکونو د اعتبار، د تطبيق قابليت او قطعيت تأمينول، د مالي مؤسسو او هر هغه نهائي او خالص شوي مبلغ ترمنځ چې د پورته ذکر شوو مقرراتو او موافقت ليکونو سره په مطابقت کې ټاکل کېږي، پر مالي مؤسسو حاکم د تسوئې د قواعدو تخليصول.

۲- د څو اړخېزې تصفيې څخه د تأدياتي مکلفيتونو د نه رعايتولو له امله د راپيدا شوو خطرونو کمول او د هغه مخنيوی کول.

۳- پر اړخونو باندې يا د ثالثو اړخونو پر عليه له بانکونو پرته د نورو اشخاصو د ټولو انتقالي فرمايشونو د قطعيت او وروستني والي په اړه د بانکدارۍ د قانون د اووه اويايمې مادې د حکم او له بانکونو پرته د اشخاصو ترمنځ د مالي قراردادونو په اړه د تخليص او متعادل والي په هکله د بانکدارۍ د قانون د دوه اتيايمې مادې د حکم تطبيقول او په دې هکله د نورو قوانينو څخه پېروي نه کول.

۴- د دې مادې په (۱، ۲او ۳) اجزاوو کې له درج شوو حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې د جريمو او تعزيراتو وضع کول.

**پولي خدمتونه**

**نوي يمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د ثبتولو، د جواز د صادرولو، تنظيمولو او پر هغوی باندې د نظارت کولو مسئول دی.

(۲) د دافغانستان بانک واک لري چې د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نظارت کړي او پر هغوي باندې لاندې مکلفيتونه وضع کړي:

۱- د فعاليت د جواز اخيستل او د هغه ثبتول.

۲- د دې فصل د حکمونو مطابق، د مربوطو مقرراتو په رعايتولو باندې مکلفول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د هغو شرايطواو مقرراتو لرل چې پر بنسټ ئې پولي خدمتونه تر سره شي، د دافغانستان بانک ته د نظارت په چارو کې لازمې آسانتياوې برابرې کړي او د عامه شتمنيو د ساتلو لپاره چې په امانت کې ئې دي، مرسته وکړي.
۴- مسئولې شعبې يا اداري ته د هغو معاملو د رپوټ ورانديې کول چې ارزښت يې د ټاکل شوي حد اقل مبلغ تجاوز وکړي.
(۳) د دې مادې پر بنسټ شرايط او مقررات د جواز د صادرېدو او ثبت د شرايطو په ګډون کېدلی شي چې د پولي خدمتونو يو صنف يا ډول له بل صنف يا ډول سره متفاوت وي.
(۴) د دافغانستان بانک کولاې شي هغه خدمتونه او آسانتيا وې چې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په ګډون د مالي مؤسسو لخوا د مشتريانو لپاره د ورکړو د فرمايشاتو د لېږلو، د پړاوونو د بشپړولو او ترلاسه کولو لپاره د هېواد په رائجو پيسو يا اسعارو باندې وړاندې کېږي، تنظيم او نظارت کړي.
(۵) د دافغانستان بانک کولای شي، د دې مادې په (۴) فقره کې د درج شوو خدمتونو او آسانتياوو د رامنځ ته کولو، اجراء کولو او سمبالولو په کارکې له مالي مؤسسو سره مرسته وکړي.

**متفرقه**

**يونوي يمه ماده:**

(۱) د دې قانون په اووه اتيايمه اونوي يمه ماده کې درج د جواز غوښتنليک ورکول، ثبتول، ردول او لغو کول د مربوط طرزالعمل مطابق صورت مومي.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جواز ورکول او ثبتول د لاندې مراحلو لرونکی دی:
۱- د عامه ثبت په دفتر کې د معلوماتو درجول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د دافغانستان بانک له خوا د جواز یا د ثبت د تصدیق لیک صادرول.
۳- د دې فقرې د (۱او۲) اجزاو په درج شوو مراحلو کې سیستم او د خدمت ډول او هغه اشخاص چې جواز او تصدیق لیک ورته صادرېږی، مشخص کېږي.
(۳) لاندې اشخاص د دې قانون په اووه اتیایمه او نوي یمه ماده کې د جواز د اخیستلو او ثبتولو د شرایطو څخه معاف دي:
۱- د دافغانستان بانک.
۲- بانکونه.
۳- د راکړې ورکړې د طبیعت، اندازې او موقعیت یا د هغو د مشتریانو د ډول په دلیل نور اشخاص. دغه معافیت کېدلی شي چې مشروط او د وخت له نظره محدود یا قسمي وي. هغه خدمتونه چې د داسې اشخاصو لخوا برابرېږي یانه برابرېږي، د دافغانستان بانک لخوا فهرست کېږي.
(۴) د ورکړې د سیستمونو مجریان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي د دافغانستان بانک د قوانینو او مقرراتو د حکمونو په رعایتولو سره په خاص ډول په لاندې مواردو کې مکلف دي:
۱- د مربوطو اټکل شوو شرایطو مطابق د خپلو مشتریانو په هکله په دفترونو او دوسیو کې د معلوماتو راټولول، ثبتول او ساتل.
۲- د دافغانستان بانک په مقرراتو کې د اټکل شوو شرایطو مطابق د خپلو مشتریانو او ادارې د راکړې ورکړې او مالي وضعیت په هکله د مطلوبه معلوماتو وړاندې کول.
(۵) په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک یې تشخیص کړي چې د ورکړې د سیستم مجریان یا د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي، د دې قانون یا نورو مقرراتو حکمونه نقض کړي وي یا د خپلو دیونو په ورکړې قادر نه وي یا د جرم مرتکب شوی وي یا د جرمي فعالیتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سره کولو د اشتباه په تقوئې باندې مدرکونه وجود ولري، د هغوی جواز او ثبت لغو کېږي.

## لسم فصل
## د بهالرونکو سندونو خدمتونه او د هغو د لېږدولو سیستم

### د بها لرونکو سندونو د خدمتونو ثبتېدل

**دوه نوي یمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول په افغانستان کې د بها لرونکو سندونو د لاندې راکړې ورکړې او خدمتونو په وړاندې کولو کې ګډون وکړي، د غیر قانوني عمل مرتکب ګرځي:

۱- د بها لرونکو سندونو د پېرودنې، پلورنې، تبادلې، ادارې، ساتنې او حمل او نقل خدمتونه.

۲- د بهالرونکو سندونو یا نورو مالي سندونو د تخریب لپاره د خدمتونو برابرول.

۳- د مالي بازار د اداري او عملیاتو لپاره د خدمتونو برابرول.

۴- د بهالرونکو سندونو په صندوق کې د پانګې اچونې لپاره د خدمتونو برابرول چې د عامه پیسو څخه لاس ته راغلي وي.

۵- نور هغه خدمتونه چې د وزیرانوشوري لخوا د بهالرونکو سندونو د خدمتونو په توګه پېژندل شوي وي.

(۲) هغه شخص چې د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکي په توګه په دافغانستان بانک کې ثبتېږي، یا د دې قانون د دري نوي یمې مادې د حکم مطابق له ثبتو لوڅخه معافیږي، له دې حکم څخه مستثنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ثبت له مقرراتو څخه معافيت**

**دري نوي يمه ماده:**

(۱) لاندې اشخاص د دې قانون د دوه نوي يمې مادې د حکم د په نظر کې نيولو سره د ثبت له مقرراتو څخه مستثنی دي:

۱- د دافغانستان بانک.

۲- بانکونه.

۳- د راکړې ورکړې د طبيعت، اندازې او موقعيت يا د هغو د مشتريانو د ډول په دليلونو نور اشخاص.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په (۳) جزء کې درج شوي اشخاص په هغه صورت کې له معافېدو څخه ګټه اخيستلی شي چې د دافغانستان بانک د دې قانون د نهه نوي يمې مادې له تطبيقېدو څخه ډاډ ترلاسه کړي.

د دغه معافېدل کېدلی شي چې مشروط يا د وخت له نظره محدود يا قسمي وي.

(۳) د بهالرونکو سندونو هغه خدمتونه چې د دې مادې د (۱) فقرې په (۳) جزء کې د درج شوو اشخاصو لخوا برابرېږي يا نه برابرېږي، د دافغانستان بانک لخوا فهرست کېږي.

**تنظيم، نظارت او احتياطي معيارونه**

**څلور نوي يمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک د دې قانون په نهه نوي بمه ماده کې د درج شوو هدفونو د په نظر کې نيولو سره د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکو د تنظيمولو او نظارت مسئول دی.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي چې د بهالرونکو سندونو د خدمتونو وړاندې کوونکي نظارت کړي او لاندې شرايط پر هغوی باندې وضع کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د احتیاطي مقرراتو رعایتول چې د هغه مطابق د بهالرونکو سندونو خدمتونه تر سره کېږي، د هغو مقرراتو په ګډون چې د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکو او د هغو له مجریانو څخه د دافغانستان بانک د نظارت د آسانولو لپاره د عامه شتمنیو د ساتنې چې د دې وړاندې کوونکو په امانت کې دي.
۲- د دولت مربوطې ادارې ته د هغو معاملاتو د رپوټ وړاندې کول چې ارزښت ئې د ټاکل شوي حد اقل مبلغ څخه تجاوز وکړي.
(۳) هغه مبالغ او بهالرونکي سندونه چې د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکو پوروالي (مقروضیت) خپلو مشتریانو ته تشکیلوي، له هغو شتمنیواو بهالرونکو سندونو څخه چې د نورو مشتریانو په حسابونو کې کرېدت کېږي او په جلا ډول ساتل کیږي، د نورو مشتریانو په پورونو(بدیهیو) یا په خپله د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکو په بدیهیوکې د وجوهو یا بهالرونکو سندونو په ورکړه کې ورڅخه ګټه اخیستل کېدای نه شي.
بانکونه له دی حکم څخه مستثنی دي.

**په عامه وړاندې کونه (عرضه) او د بها لرونکو سندونو په پلورنه کې محدودیت**

**پنځه نوي یمه ماده:**

(۱) هېڅ شخص نه شي کولای په مستقیم یا غیرمستقیم ډول د هغو بهالرونکو سندونو د پلورنې یا پېرودنې یا د هغه د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه فعالیت وکړي کوم چې د دافغانستان بانک د ثبت په عام دفتر کې نه دي ثبت شوي. استثنائی حالات او شرایط له مربوطو مقرراتو سره سم تنظیمېږي.
(۲) د دافغانستان بانک کولای شي د دې مادې په (۱) فقره کې درج د ثبت د ساتلو لپاره شرایط د هغو شرایطو په ګډون چې د بهالرونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندونو او د هغه د صادروونکو په هکله تولو (عمومو) ته د معلوماتو د وړاندې کولو په هکله وي، وضع کړي.
(۳) د دافغانستان بانک کولای شي د بهالرونکي سند ثبت د منظور شوي بهالرونکي سند په توګه تر دې شرايطو لاندې لغوکړي:
۱- په هغه صورت کې چې د بهالرونکي سند صادروونکي، د مستقل شخصيت په توګه خپل موجوديت له لاسه ورکړي يا د محکمې له خوا د ديونو له ورکړې څخه عاجز يا ورشکسته اعلان شوی وي.
۲- په هغه صورت کې چې د بهالرونکي سند بازاري ارزښت له شلو افغانيو څخه کم وي.
(۴) د هغه بهالرونکي سند راکړه ورکړه چې ثبت شوي نه وي، باطل ګڼل کېږي. په هغه صورت کې چې راکړه ورکړه تسويه شوې وي، پېرودونکی کولای شي بهالرونکی سند د ورکړل شوي قيمت په بدل کې د سند پلورونکي ته پرته له دې چې، حق العمل، فيس يا د هغه نور لګښتونه تر لاسه کړي، مسترد کړي.

**د بها لرونکو سندونو د لېږدولو سيستمونه**

**شپږنوي يمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی چې د بهالرونکو سندونو سالم او اغېزمن سيستمونه رامنځ ته کړي، ويې ساتي او هغه ته پراختيا ورکړي.
(۲) هغه اشخاصو چې د فعاليت جواز ئې له د افغانستان بانک څخه تر لاسه کړی وي، نه شي کولای د بهالرونکو سندونو په لېږدونه کې تشبث وکړي.
(۳) د دافغانستان بانک د بهالرونکو سندونو د لېږدونې او د هغه مجريانو د د جواز د صادرولو، تنظيمولو او نظارت مسئول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) د دافغانستان بانک کولای شي چې لاندې شرایط د بهالرونکو سندونو د لېږدولو په سیستمونو او د هغه پر مجریانو باندی وضع کړي:

۱- د احتیاطی مقرراتو رعایتول چې د هغه مطابق د بهالرونکو سندونو خدمتونه تر سره کېږی، د هغو مقرراتو په ګډون چې د دافغانستان بانک د نظارت د آسانولو لپاره د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکو او د هغه د مجریانو او د عامه شتمنیو د ساتنی لپاره چې د دې وړاندې کوونکو په امانت کې ایښودل شوي دي.

۲- د اشخاصو د بهالرونکو سندونو د لېږدولو د ټولو فرمایشاتو د تسوئې د قطعیت او وروستني والی په هکله د دې قانون د اووه اویایمې مادې د حکم د تطبیقولو لپاره د زمینې برابرول (د اړخونو ترمنځ او د ټولو ثالثو اړخونو پر علیه). بانکونه لدې حکم څخه مستثنی دي.

۳- د بهالرونکو سندونو د لېږدونې په سیستم کې د ګډون لپاره د شرایطو لرل.

(۵) د دې مادې په (۴) فقره کې درج شوي شرایط او مقررات د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د سیستم یا د بها لرونکو سندونو د عاملینو یوه طبقه یا ډول د هغه د بلی طبقې یا ډول سره متفاوت کېدلی شي.

(۶) د دافغانستان بانک کولای شي د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو دندو د ښه تر سره کولو لپاره لاندې اجراآت او نور موارد چې ضروري وګڼل شي، تر سره کړي:

۱- د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د سیستم سازمانول، لوړول او اجراء کول او په هغه کې ګډون کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په خپلو دفترونو کې د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د سیستم د مجریانو او د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکو د تسویه ئې حسابونو ساتل د هغه موافقتنامې د مقرراتو د شرایطو او ضوابطو مطابق چې د حساب لرونکو سره لاسلیک کېږي.
۳- د مربوطو مقرراتو مطابق د کافي رهن په بدل کې حساب لرونکو ته د اضافه برداشت د ورکولو لپاره د آستانتیاوو برابرول.
(۷) د دافغانستان بانک کولی شي د لاندې مواردو په هکله لازمې آسانتیاوې برابرې کړي:
۱- د دافغانستان بانک د بهالرونکو سندونو د تسویې د سیستمونو او د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د نورو سیستمونو سره د متقابلو اړیکو تأمینول.
۲-په داخلي پیسو او اسعارو باندې د بها لرونکو سندونو د لېږدونې لپاره د نوو تګلارو او پرمخ تللې تکنالوژۍ رامنځته کول او هغه ته پراختیا ورکول.
۳- په هېواد کې د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د سیستم د تدریجي ودې لپاره د دوام د اره منظمو پلانونو طرح کول او تطبیقول.
(۸) د دافغانستان بانک کولای شي چې د دولت یا د د افغانستان بانک له خوا د بهالرونکو سندونو د صادره پور د لېږدونې او دفترداری د ساتنې او د بهالرونکو سندونو د پور د تسوئې د معاملاتو او د هغه د لیلام د طرزالعمل او همدا راز د دلالانو د مربوطو چارو د تنظیمولو لپاره مقررات وضع کړي.

**د هرمي برنامو منع**

**اووه نوي یمه ماده:**

هېڅ شخص نه شي کولای په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د برنامې په رامنځته کولو آفر ورکولو، یا آفر اخیستلو، اعلانولو، تطبیقولو، تمویلولو، اداره کولو، نظارت او رهبري کولو کې چې د هغو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډونکوونکو ګټه عمدتاً په برنامه کې دهغو ګډونکوونکو د شمېر په زیاتوالي او د برخه اخیستو په ونډه پورې تړلې وي، ګډون وکړي.

**متفرقه**

**اته نوي یمه ماده:**

(۱) د دې قانون په څلور نوي یمه او اته نوي یمه ماده کې درج شوي د جواز د غوښتنلیک، ورکولو او ردولو شرایط او د هغه د ثبتولو یا لغو کولو ډول د مربوطو مقرراتو مطابق مشخص کېږي.

(۲) جوازونه او ثبت د لاندې مراحلو لرونکي وي:

۱- د دافغانستان بانک د عامه ثبت په دفترکې د معلوماتو درجول.

۲- د دافغانستان بانک لخوا جواز یا د ثبت د تصدیق لیک صادرول.

۳- د دې فقرې د (۱او۲) اجزاوو په درج شوو مراحلو کې سیستم او د خدمت ډول او هغه اشخاص چې هغوی ته جواز او تصدیق لیک صادریږي، هم په نښه کېږي.

(۳) د بهالرونکو خدمتونو وړاندې کوونکي او د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د سیستم مجریان د مربوطو قوانینو او مقرراتو د حکمونو له په پام کې نیولو برسېره د لاندې چارو په تر سره کولو هم مکلف دي:

۱- د مربوطو مقرراتو مطابق د مشتریانو په هکله د معلوماتو راټولول او ساتل.

۲- د مربوطو مقرراتو مطابق د مشتریانو، اداري، راکړې ورکړې او مالي وضعیت په هکله د مطلوبه معلوماتو وړاندې کول.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي د بهالرونکو سندونو د خدمتونو د وړاندې کوونکو یا د بهالرونکي سند د لېږدونې د سیستم د مجري جواز او ثبت چې د دې قانون یا مربوطو مقرراتو حکمونه نقض کړي یا د خپلو دیونو له ورکولو څخه عاجز وي یا د جرم مرتکب شوی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يا د جرمي فعاليتونو د تر سره کولو په اړه د اشتباهاتو پر تقوئې باندې ئې مدارکو موجود وي، لغو کړي.

(۵) هغه شخص چې په مستقيمه ياغير مستقيمه توګه د بهالرونکو سندونو د خدمت يا د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د خدمت په هکله چې منع شوي دي يا د دې قانون په نهه نوي يمه ماده کې درج يو له هدفونو سره په تناقض کې فعاليت وکړي يا له مشتريانو څخه لاس ته راغلي وجوه او بهالرونکي سندونه د هغوي په ګټه يا د هغوی په حساب استعمال يا د هغه د استعمال اجازه ثالثو اړخونوته ورکړي ياغولوونکي عملونه ترسره کړي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او په هغه حبس چې له دوه کلونو څخه تجاوزو نه کړي يا په نقدی جريمه چې له پنځه ويشتو زرو افغانيو څخه زياته نه وي او يا په دواړو جزاء ګانو باندې محکومېږي.

هغه اشياء چې د جرم په ارتکاب کې ورڅخه ګټه اخيستل شوې وي (د نقدو پيسو په ګډون) مصادره کېږي.

## دندې

### نهه نوي يمه ماده:

د دافغانستان بانک مکلف دی لاندې هدفونه چې په دی فعل کې د درج شوو دندو د پرمخ بيولو په منظور هغه ته ورسپارل شوي دي، پلي کړي:

۱- د بهالرونکو سندونو له خدمتونو، د بهالرونکو سندونو د لېږدونې د سيستم او مالي بازار ته د خلکو د باور او پيژندګلوی راجلبول او هغه ته پراختيا ورکول.

۲- په بهالرونکو سندونو کې د پانګه اچوونکو د شتمنيو او پانګوالۍ ساتل.

۳- د بهالرونکو سندونو د خدمتونوله تر سره کولو څخه چې د جرمي هدف د پلي کولو لپاره، غولونه (فرېبکاری) خيانت او د بهالرونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندونو یا له هغو شخه د لاس ته راغلو عوایدو په معاملې پورې مربوط له اطلاعاتو شخه ناوړه ګټه اخیستنه برخه پکې ولري، د اشخاصو منع کول.

## یوولسم فصل
## حسابونه، مالي صورت حساب، پلټنې او رپوټونه

### مالي کال
**سلمه ماده:**

د دافغانستان بانک مالي کال، هجري شمسي کال دی چې د وري له لومړۍ ورځې شخه پيل او د هماغه کال د کب د مياشتې له وروستنۍ ورځې سره پای ته ر سېږي.

### د حسابدارۍ تګلاره
**یو سلو یوومه ماده:**

د دافغانستان بانک مکلف دی چې خپل حسابونه او ریکاردونه د حسابدارۍ د بین المللي معیارونو سره په مطابقت کې چې د هغه فعالیت او مالي شرایط په دقیق ډول منعکس کړي، وساتي.

### مالي صورت حساب
**یو سلو دوه یمه ماده:**

د دافغانستان بانک مکلف دی د بېلانس شيټ، د ګټې او تاوان د حساب د صورت او نورو حسابونو د صورت په ګډون د خپل هر مالي کال د حساب صورتونه برابر او ترتیب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حسابونو پلټل**

**یو سلو دريم يمه ماده:**

د دافغانستان بانک حسابونه او ریکاردونه د بین المللي معیارونو مطابق له بانک څخه بهر د مستقلو پلټونکو لخوا چې د وزیرانو شوري لخوا ټاکل کېږي، پلټل کېږي.

**د حسابونو د صورت او راپوروونو طبع کول او خپرول**

**یوسلو څلورمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی د هر مالي کال په پای کې د دریو میاشتو په ترځ کې لاندې مراتب ملي شوري ته وړاندې کړي:

۱- د هغو مالي حسابونو د صورت نقل (کاپي) چې د پلټونکو لخواتصدیق شوي وي.

۲- د مربوط مالي کال د فعالیتونو او د نورو چارو د فعالیت رپوټ.

۳- د اقتصادي وضعي په هکله رپوټ.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی د هرې میاشتې په وروستۍ کې د هرو پنځلسو ورځو په ترځ کې، د خپل حساب د صورت پروفورمه چې په هغې کې د دافغانستان بانک په اسعاري زېرمو کې نګه (خالص) بدلونونه د هماغې میاشتې په اوږدو کې راغلي وي، د مالیې وزیر ته وړاندې کړي.

(۳) د دافغانستان بانک پروفورمې له وړاندې کولوو روسته د دې مادې په (۱او۲) فقره کې درج شوي د مالي حسابونو صورت او رپوټ او د مالي او اقتصادي مسایلو په هکله نور رپوټونه او کتنې (مطالعات) د لزوم سره سم خپروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پولي سیاست رپوټ**

**یوسلو پنځمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک د زېرمه اېزو حسابونو نګه زېرمه د اووه ورځو په ترڅ کې په سلو کې شل راپرېوزي، د دافغانستان بانک مکلف دی د مراتبو رپوټ په لیکلې توګه جمهور رئیس او د مالیې وزیرته ورکړي.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی چې له هرو شپږو میاشتو وروسته د راتلونکو اجراآتو پلان چې لاندې مراتب پکې وي، ملي شوري ته وړاندې کړي:

۱- د پولي سیاست د نیولو د تشریح کولو او توضیح کولو د لیلونه چې د دافغانستان بانک هغه د راتلونکو شپږو میاشتو په اوږدو کې تطبیقوي.

۲- د هغه اصولو تشریح کول چې د دافغانستان بانک ئي د پولي سیاست د نیولو او اجراء کولو لپاره د دوه راتلونکي کلونو یا اوږدې مودې لپاره تطبیقوي.

۳- د دافغانستان بانک له خوا د پولي سیاست په نیولو او اجراء کولو باندې نوې کتنه او د هغه ارزول په هغه موده کې چې د پولي سیاست د وروستنیو شپږو میاشتو شرح په کې وي.

## دوولسم فصل
## د مالي شخړو د حل کمېسیون

**کمېسیون**

**یو سلو شپږمه ماده:**

د دې قانون په درج شوو حکمونو کې د مالي شخړو د حل په منظور، یو کمېسیون په د افغانستان بانک کې جوړېږی چې د شخړو وړ مالي قضیې د قضائي څېړنې د صلحې سره د مخه به حل او فصل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمېسیون واکونه**

**یو سلو اوومه ماده:**

(۱) کمېسیون کولی شي د دافغانستان بانک په لاندې پرېکړو او حکمونو باندې نوې کتنه وکړي:

۱- هغه تصمیم چې د غوښتنلیک ورکوونکي د بانکي جواز د غوښتنلیک، د بانکي اجازه لیک یا ثبت د ردولو په هکله نیسي.

۲- هغه تصمیم چې پر بانکي جواز یا بانکي اجازه لیک ثبت باندې د قیدونو یا محدودیتونو په هکله وضع کېږي.

۳- هغه تصمیم چې د بانکي جواز یا بانکي اجازه لیک د لغو کولو په هکله نیول کېږي.

۴- هغه تصمیم چې د زیان د جبران یا مالي مجازاتو په هکله صادرېږي.

۵- صادر شوي حکمونه د هغه شخص پر علیه چې په د افغانستان بانک کې د جواز یا بانکي اجازه لیک یا ثبت له لرلو پرته، په داسې فعالیت لاس پورې کړي چې د قانون مطابق د جواز یا اجازه لیک په اخیستلو یا ثبتولو مکلف وي.

۶- هغه تصمیم چې د متولي د تقرر یا د هغه د کار د تمدید په هکله نیول کېږي.

۷- نور هغه موارد چې د قانون مطابق کمېسیون ته سپارل کېږي.

(۲) کمیسیون کولای شي هغه غوښتنلیکونه چې د بانک د پرانیستلو یا ورشکستګۍ پر علیه وړاندې کېږي، وڅېړي او له هغه څخه نظارت وکړي.

(۳) کمېسیون کولای شي د مالي ادارو ترمنځ شخړې وڅېړي او هغه لرې کړي، پدې شرط چې د مخکنۍ موافقې له مخې د شخړې رفع کول په صریح ډول هغه ته سپارل شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمیسیون جوړښت**

**یوسلو اتمه ماده:**

(۱) د مالي شخړو د حل کمېسیون جوړ دی له:

۱- درې تنه حقوق پوهان د دافغانستان بانک د رئیس په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظوری.

۲- د مالي چارو درې تنه مسلکي، مجرب او سابقه لرونکي حسابداران د مالیې د وزیر په وړاندیز او د دولت د رئیس په منظوری.

۳- اداري مامورین او کارکوونکي د اړتیا په اندازه.

۴- د کمېسیون رئیس د حقوق پوهانو له منځه د دافغانستان بانک د رئیس په وړاندیز او د دولت د رئیس په منظوری ټاکل کېږي.

(۲) د کمېسیون مسلکي غړي د لاندې شرایطو لرونکي وي:

۱- د افغانستان د تابعیت لرونکي وي.

۲- د نیک شهرت لرونکې وي او په امانت کې د خیانت په جرم نه وي محکوم شوي.

۳- د سیاسي او مدني حقوقو په حرمان نه وي محکوم شوي.

۴- د دندې په بهیر کې په نورو رسمي دندو نه وي ګمارل شوي.

۵- د هېڅ یو بانک د عالي شوری او عامل هیئت غړیتوب و نه لري یا د دافغانستان بانک د ناظر یا کارکوونکي په توګه دنده تر سره نه کړي.

۶- د تقرر په وخت کې یې سن له (۳۵) کلونو څخه کم نه وي.

(۳) د کمېسیون مسلکي غړي د تقرر وروسته له خپلو عهدو څخه ګوښه کیدلی نه شي مګر دا چې د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوي کوم شرط ئي له لاسه ورکړی وي یا د خیانت د جرم د ارتکاب له امله د واکمنې محکمې له خوا د ماموریت څخه په انفصال یا حرمان یا طرد محکوم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) مسلکي غړی د (۷۰) کلنۍ سن په بشپړولو سره متقاعد کېږي او مخکې له هغې کولای شي په لیکلي غوښتنلیک سره د شخصي معاذیرو له امله له دندې څخه استعفی وکړي.
د مسلکي غړو د معاش اندازه، د تقاعد حقوق او نور امتیازونه د دافغانستان بانک په وړاندیز او د وزیرانو شوري په تصویب ټاکل کېږي.

**د شتمنۍ ثبتول او د شخړې په حل و فصل کې ګډون نه کول**
**یوسلو نهمه ماده:**
(۱) مسلکي غړی مکلف دی د تقرر په وخت کې خپله شتمني د شتمنیو د ثبت په فورمه کې درج کړي.
(۲) د شتمنیو د ثبت فورمه د هرکال په پای کې د هغه هیئت لخوا چې د د افغانستان بانک، دمالیې د وزیر او د وزیرانو د شوري لخوا ټاکل کېږي، څېړل کېږي. د وزیرانو د شوري استازی د څېړنې د هیئت رئیس دی.
(۳) که چېرې مسلکي غړی په هغې قضې کې چې د حل او فصل لپاره کمېسیون ته راجع شوې ده، ګډې ګټې و لري، د قضیې د څېړنې په هیئت کي له ګډون څخه لیکلی معذرت غواړي او په دې هکله له څېړنې څخه ډډه کوي، پدې حالت کې قضیه د نورو غړو له خوا حل او فصل کېږي، پرته له هغې د کمېسیون فیصله باطله ګڼل کېږي.
(۴) د کمېسیون هېڅ یو مسلکي یا اداري غړی نه شي کولای تحفه یا پور د شخړې د یوه اړخ لخوا په خپل نوم یا د هغه شخص په نوم چې له هغه سره د خپښۍ اړیکي یا ورسره مالي شراکت لري، و مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمیسیون د مسلکي غړو مکلفیتونه**

**یو سلو لسمه ماده:**

د کمېسیون مسلکي غړي د لاندې مراتبو په رعایتولو مکلف دي:

۱- د دندې د اسرارو یا هغو اطلاعاتو په هکله د معلوماتو نه افشاء کول چې د هغو د اجرأ کولو له امله د نورو اشخاصو په هکله لاس ته راغلي وي، مګر د قانون د حکم یا دواکمنې محکمې په امر د ضرورت له مخې.

۲- د لاس ته راغلو معلوماتو او د اطلاعاتو څخه د ځان یا نورو اشخاصو په ګټه استفاده نه کول یا نورو ته د ګټې اخیستنې د اجازې ورکول یا له هغو څخه د ګټې اخیستنې د زمینې برابرول.

**د کمېسیون طرزالعمل او لایحه**

**یو سلو یوولسمه ماده:**

کمېسیون مکلف دی د تشکیل له نېټې څخه یوه میاشت وروسته خپل طرزالعمل او د دندو لایحه تدوین او د تصویب لپاره یې د دافغانستان بانک عالي شوري ته وړاندې کړي.

**کمېسیون ته د اشخاصو احضارول**

**یو سلو دوولسمه ماده:**

کمېسیون کولای شي اشخاص د یوې قضیې په هکله چې د حل او فصل لپاره ورته راجع شوې وي، احضار او هغوی د اړتیا وړ سندونو او مدرکونو په وړاندې کولو مکلف کړي. سرغړوونکی مجازات کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمېسیون پرېکړه**

**یو سلو دیارلسمه ماده:**

(۱) د کمېسیون د تصمیم نیولو په وخت کې لاندې مراتب په نظر کې نیسي:

۱- د کمېسیون تصمیم د غړو په اکثریت رایو نیول کېږي.

۲- تصمیم په دلایلو او مدرکونو مستند او د قانون د حکمونو مطابق صادرېږي.

۳- تصمیم ګډون کوونکي غړي لاسلیک کوي او ثبتېږي.

۴- د نیول شوي تصمیم یو نقل له صادرېدو وروسته رسماً د قضیې اړخونو ته لېږل کېږي.

(۲) اړخونه (طرفین) کولای شي چې له رسمي خبرتیا وروسته د پنځلسو ورځو په ترڅ کې د کمېسیون پر پرېکړې اعتراض وکړي او دشخړې د حل او فصل لپاره قضائي مراجعو ته ورشي.

(۳) په هغه صورت کې چې د کمېسیون پرېکړه د اړخونو د یوه د اعتراض وړ ونه ګرځي د قضائي قرارونو په څېر تطبیقېږي.

**پر پرېکړو او حکمونو باندې اعتراض**

**یو سلو څوارلسمه ماده:**

(۱) د اعتراض په څېړنه کې لاندې مراتب شامل دي:

۱- د دافغانستان بانک د تصمیمونو او حکمونو پرعلیه اعتراض د نیونې یا صادرېدو له نېټې څخه د شپږو میاشتو په ترڅ کې د هغه شخص لخوا چې په تصمیم یا حکم کې ئې نوم اخیستل شوی وي، کمېسیون ته وړاندې کېږي.

۲- اعتراض د تصمیم یا حکم د باطلولو یا تعدیلولو لپاره دمشخصو د لیلونو لرونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د کمېسیون اداري مسئول وارد شوی اعتراض د کمېسیون رئیس ته وړاندې کوي او د غونډې د جوړېدو نېټه اړخونو ته په لیکلې توګه ابلاغوي او یوه نسخه ئې د دافغانستان بانک ته لېږي.

۴- کمېسیون په لاندې حالاتو کې نیول شوی تصمیم یا حکم باطل یا تعدیلوي:

- په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک د تصمیم په نیولو یا د حکم په صادرولو کې د خپلو قانوني واکونو له حدودو څخه تجاوز کړی وي.

- په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک په خپلو اجراآتو کې، د تصمیم په نیولو یا د حکم د صادرولو په وخت کې د مربوطو مقرراتو او طرزالعملونو حکمونه په پام کې نه وي نیولي.

۵- کمېسیون د دافغانستان بانک د پرېکړو یا حکمونو د باطلولو یا تعدیل په وخت کې لاندې مراتب په پام کې نیسي:

- د دې مادې په (۴) جزء کې د درج شوو دلیلونو او د هغو د اصلاح کولو د لارو تصریح کول.

- د کمیسیون د نیول شوي تصمیم د عملي کولو په منظور د وروستنۍ نېټې ټاکل.

په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک د کمېسیون د تصمیم مطابق اجراآت ترسره نه کړي، نیول شوی تصمیم عملي کېږي.

(۲) د دافغانستان بانک نیول شوي تصمیمونه او صادر شوي حکمونه تر هغه وخته نافذ دي چې د کمېسیون حکم د هغو د باطلېدو یا تعدیلېدو په هکله نه وي صادر شوی یا د هغه د اعتبار موده نه وي منقضي شوې.

(۳) د دافغانستان بانک تصمیم یا حکم د هغې قضیې په هکله چې د کمېسیون د تصمیم مطابق د باطلولو یا تعدیلولو په هکله بیا نیول کېږي یا صادرېږي، بیا تر اعتراض لاندې راتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم فصل
## متفرقه حکمونه

**د تقدم حق**

**یوسلو پنځلسمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک د نغدو پیسو او نورو شتمنیو په ګډون چې په خپل یا د مربوطه مدیون په حساب کې ئې ساتي، د خپلو غوښتنو د لاس ته راوړلو په منظور د تقدم حق لري، دغه شتمنۍ کېدلی شي چې د رهن په صورت د دافغانستان بانک د غوښتنو د تضمین لپاره وي، په هغه صورت کې چې غوښتنې په سررسېدلی او د ورکړې وړ وي، د دافغانستان بانک له هغه څخه د خپلو غوښتنو د مجرائی او لاس ته راوړلو(حصول) لپاره ګټه اخلي. د بانکونو شتمنۍ چې د دافغانستان بانک له خوا د الزامي زېرمو په توګه ساتل کېږي، له دې حکم څخه مستثنی دي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي د خپل د تقدم له حق څخه یوازې د نقدي وجوهو په برداشت او د مناسبې بیې په بدل کې د مدیونینو د نورو شتمنیو په پلورلو او د اړوندو لګښتونو له کسر وروسته د هغو د پلورنې له ماحصل څخه په طلباتو کې ګټه واخلي.

د مالکیت د طلب په شمول رقابتي طلب یا نور ړومبني اکتسابي حقوق، نشي کولای د دافغانستان بانک د تقدم د حق مانع شي، مګر دا چې ثابته شي چې د دافغانستان بانک مامورین پوهېدل چې دغه شتمنۍ په اړوند مدیون پورې اړه نلري.

**ممنوعه فعالیتونه**

**یوسلو شپاړسمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک د هغو مواردو په استثني چې دغه قانون ورته واک ورکړی دی، نشي کولای لاندې فعالیتونه سرته ورسوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د مستقیم پور د مالي مرستې، بلاعوضه مرستې، مشروطې ژمنې یا د پور د پېرودلو یا د پور یا د بدهکارۍ په بل سند کې د مشارکت په ډول د مالي مرستې ورکول یا د پور قبلولو یا مشروطې بدیهۍ په ډول یا په نورو ډولونو یا د بانکوالۍ په قانون کې په درج شوو نورو فعالیتونو کې ګډون کول.
۲- په سوداګرۍ او د مالي مؤسسې د سهامو په شمول د سهامي شرکت د ونډو په پېرودلو یا په بل ډول سره په سوداګرۍ کې ګډون کول چې په هر ډول مالي، سوداګریزو، کرنیزو، صنعتي یا نورو ژمنوکې د مالکیت ګټې ولري.
۳- د پېرودنې، اجارې یا له بلې لارې، په غیر منقولو مالونو کې د مالکیت حق لاس ته راوړل. خو دا چې د اداري دندو او خپلو فعالیتونو د اجراء په منظور یا د اړوندو کارکوونکو د اسکان یا د ورته اړتیاوو لپاره د دې قانون د حکمونو مطابق یې صورت موندلی وي.
(۲) د دافغانستان بانک کولای شي لاندې فعالیتونه سرته ورسوي:
۱- د پور ورکول یا په هغه سازمان کې چې د دافغانستان بانک په دندو او مکلفیتونو پورې په اړوندو چارو کې فعالیت کوي، د مالکیت د ونډې د لرلو یا ګډون د اجازې لرل.
۲- د ټکتانې یا هغو حقوقو ترلاسه کول چې د دافغانستان بانک ته د ورکړې وړ پور په جریان کې وي، پدې شرط چې ټکتانې یا حقوق د پلورنې وړ وي او یا په بل ډول مصرفېدلای شي.
۳- د دافغانستان بانک د کارکوونکو، خپلو خپلوانو یا استازو د ګټې یا مصؤنیت لپاره د تقاعد د صندوق یا ورته مواردو تأسیسول او د ټاکلو شرایطو مطابق، د دغو لګښتونو ټول یا د یوې برخې ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- اړوندو کارکوونکو او د دوی د کورنیو غړو ته د کور (مسکن)، روغتیا او ښوونې او روزنې د برابرولو په منظور د پورونو د پروګرام رامنځته کول.

**د احصائیوي اطلاعاتو راټولول**

**یو سلو اووه لسمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی د خپلو هدفونو او دندو د پرمخ بیولو په منظور د هېواد له واکمنو مقاماتو یا مستقیماً له اقتصادي استازو څخه لازم احصائیوي اطلاعات لاس ته راوړي او پدې برخه کې د نورو هېوادونو له واکمنو مراجعو یا نړیوالو سازمانونو سره همکاري وکړي.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی د خپل تخصص په ساحو کې د احصائیوي راټولولو، تدوین او خپرولو پورې د اړوندو لایحو او اسلوبونو په هم غاړي کولو او تنظیم کې برخه واخلي.

(۳) د دافغانستان بانک، د دافغانستان بانک لپاره احصائیوي اطلاعات، د برابرولو ډول، د دغو اطلاعاتو برابرونکي اشخاص او د برابرو شوو احصائیوي اطلاعاتو محرمانه سیستم، د مقرراتو مطابق ټاکي.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي هغه بانکونه چې په هېواد کې فعالیت کوي، د کلنیو، ربعوارو رپوټونو یا په لنډ زماني واټن سره چې د پولي احصائیو، د عوایدو او لګښتونو، د صعب الحصولو پورونو او له پورونو څخه د راپیدا شوو زیانونو او تدارکاتو، د اسعارو د خالص بیلانس او ټکټاني د نرخ او د خپلو نورو فعالیتونو په برکې نیوونکي وي، په وړاندې کولو مکلف کړي. د دافغانستان بانک مکلف دی، احصائیې له نړیوالو معیارونو او تګلارو سره په مطابقت کې تدوین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵) د دافغانستان بانک کولای شي غیر بانکي مالي مؤسسې او استازي يې چې په هېواد کې فعالیت کوي، په لنډو زماني واټنونو سره د کلنیو، ربعوارو یا احصائیوي رپوټونو په برابرولو او وړاندې کولو مکلف کړي.

(۶) د دافغانستان بانک مکلف دی له بانکو او نورو پولي ادارو څخه راټول شوي احصائیوي ارقام د سیاست ګذارۍ د اړتیاوو مطابق د عامې خبرتیا او د نړیوالو ادارو په وړاندې د خپلو مسئولیتونو د سرته رسولو په منظور برابر او وړاندې کړي.

(۷) د دافغانستان بانک کولای شي د خپلو څارنیزو، سیاست ګذارۍ او احصائیوي دندو او مسئولیتونو د پرمخ بیولو په منظور، بانکونه، استازي يې او نورې پولي ادارې د دوی د افرادو یا شرکتونو د خاصو معاملو په هکله د معلوماتو په برابرولواو وړاندې کولو مکلف کړي.

(۸) د دافغانستان بانک مکلف دی د احصائیوي معلوماتو له خپرولو د مخه چې د هغو له امله د اشخاصو او تشبثاتو سوداګریز اړیکي، عامو خلکوته بربنډ (افشاء) کېږي، د هغو کتبي موافقه واخلي.

(۹) د دافغانستان بانک کولای شي څارونکو او نورو واکمنو مراجعوته د دوی د رسمي دندو د سرته رسولو لپاره د افرادو او خاصو شرکتونو د معاملو په هکله د بانکي او پولي رېکاردونو د محرمیت په باب معلومات برابر کړي.

(۱۰) د دافغانستان بانک کولای شي د بانکونو، پولي ادارو او د دوی د استازو (ایجنتهانو) او ادارې پرخلاف د هغو لخوا د نابشپړو معلوماتو د برابرولو، په رپوټ ورکونه کې د ځنډ، د نه رپوټ ورکونې، د غیرمؤثقې رپوټ ورکونې په صورت کې تعزیرات وضع کړي.

(۱۱) هغه شخص چې د دې مادې د حکم په موجب، د دافغانستان بانک ته د احصائیوي معلوماتو په برابرولو مؤظف کېږي، د اړوندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقرراتو د شرایطو مطابق د اطلاعاتو په برابرولو او وړاندې کولو مکلف دی، د احصائیوي اطلاعاتو له برابرولو څخه اهمال جرم ګڼل کېږي، مرتکب یې په حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي یا نقدي جریمه چې له دوولسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا دواړو په جزاء محکومېږي.

**مصئونیتونه**

**یوسلو اتلسمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک د عالي شوری غړي، د ټولو رئیس، مرستیال، د ټولو ناظر، کارکوونکی یا استازی او د تصفیې مدیر چې د دې قانون یا د بانکوالۍ د قانون د حکمونو مطابق مقررېږي، د دندې د اجراء په وخت کې له خپل عمل یا تېروتنې (اشتباه) څخه د راپیدا شوي زیان د جبران مسئول ندي، خو دا چې اعمال یې له ناوړه (سوء) نیت څخه راپیدا شوي وي.

(۲) د دافغانستان بانک د لاندې مالیاتو او محصولاتو له ورکړې څخه معاف دی:

۱- پر عایداتو یا ګټو باندې مالیات یا ګټې.

۲- پرشتمنیو باندې د شخصي املاکو مالیات.

۳- د وجوهو پر انتقال یا نورو مالي معاملو باندې مالیات.

۴- هغه مالیات چې د صکوکو په ډول د بهالرونکو سندونو او بانکنوټونو پر صادرولو وضع کېږي.

۵- ګمرکي محصولات، وارداتي محصولات، د خرڅلاو مالیات، د سرو زرو، بانکنوټونو او سکو پر واردولو باندې پر اضافه شوي ارزښت مالیات چې د افغانستان بانک ته انتقالېږي.

۶- د سرو زرو، بانکونو او سکو پر کورنیو زېرمو باندې د خرڅلاو مالیات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) د دافغانستان بانک، پرمنقولو شتمنیو باندې د مالیاتو د ورکړې په اړه، پر نورو وزارتونو او ادارو باندې د نافذو قوانینو د حکمونو تابع دی.
(۴) د دافغانستان بانک د نورو مالیاتو او محصولاتو په ورکړه مکلف دی، خو دا چې قانون بل ډول حکم کړی وي.

**د وړ اداري معیارونه**

**یوسلو نولسمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی، سپارل شوي هدفونه، د قانون د حکمونو مطابق لاس ته راوړي.
(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی، خپل تصمیمونه د قانون د حکمونو مطابق په بې پلوۍ سره ونیسي.
(۳) د دافغانستان بانک مکلف دی، د محدودیتونو د وضع کولو په وخت کې د فعالیت په سرته رسولو او د خدمتونو په برابرولو کې د ګټو تناسب په پام کې ولري.

**اماني حسابونه**

**یوسلو شلمه ماده:**

د دافغانستان بانک کولای شي، دولت یا نورو دولتي ادارو یا مؤسسو ته د ورکړل شوو بهرنیو مبالغو د اداري او ساتنې په منظور، د موافقه لیک د شرایطو مطابق، په خپلو دفترونوکې اماني حسابونه افتتاح کړي. په دغو حسابونو کې ثبت شوې شتمنۍ د هغه د ثبت شوو بدیهیو په وړاندې د ګټې اخیستنې وړ دي یا د موافقه لیک د شرایطو مطابق، پدې برخه کې اجراآت صورت مومي. نورې شتمنۍ د بدیهیو په وړاندې د ګټې اخیستنې وړ ندي.
د دافغانستان بانک کولای شي د دغو حسابونو د اداري په مقابل کې حق الزحمه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جواز او ثبت نه لرونکي اشخاص**

**یوسلو یوویشتمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک کولای شي، د حسابونو، دفترونو او د ثبت د نورو ریکاردونو د پلټنې او څېړنې په منظور، د اړتیا په صورت کې جبراً د هغو اشخاصو دفترونو ته ور ننوځي چې له جواز او ثبت پرته فعالیت کوي، پدې صورت کې اړوندې امنیتې مراجع مکلفې دي له د افغانستان بانک سره همکاري وکړي.

(۲) په هغه صورت کې چې شخص یا مؤسسه د جواز له لرلو او ثبت پرته فعالیت وکړي. د دافغانستان بانک د یوې اونۍ په موده کې د دغو فعالیتونو د درولو (توقف) په منظور هغو ته دستور ورکوي، د سرغړونې په صورت کې د دافغانستان بانک موضوع د مالي شخړو د حل کمېسیون ته وړاندې کوي.

کمېسیون کولای شي، د دافغانستان بانک په واسطه د سرغړوونکي د شتمنیو، دفترونو او سندونو د ضبطولو امر صادر کړي، کمېسیون مکلف دی د یوې اونۍ په موده کې، د څېړنې په جلسه کې د ګډون په غرض، طرفینو ته بلنه ورکړي.

د څېړنې په پای کې کمېسیون کولای شي د بانکوالۍ د قانون مطابق، د شخص د شتمنیو د لیلام امر ورکړي یا ضبط لغو کړي او د د افغانستان بانک د زیان په جبران مکلف کاندي.

د انحلال په صورت کې تر لاسه شوي عایدات د کمېسیون د لګښتونو او د دافغانستان بانک د نورو لګښتونو د امانت اېښودونکو د ودیعو لپاره د ترجیح په ترتیب سره وېشل کېږي. نورې شتمنۍ خاوندانو ته مستردېږي یا ضبطېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرغړونې**

**یوسلو دوه ویشتمه ماده:**

لـدې قـانون څخـه هـر ډول سـرغړونه چـې جـزاء یـې پـه بـل ډول سـره مشخص شوې نه وي، د جزاء د قانون له پنځه سوه شلمي مـادې سره په مطابقت کې د قباحت د جرم او د دغو مقرراتو د نه موجودیت پـه صـورت کـې، د جـزاء د قـانون لـه څلـور سـوه اتلـسمې مـادې څخـه د سرغړونې په توګه ګڼل کېږي او د عدلي تعقیب وړ ده.

**د مقرراتو وضع کول**

**یو سلو درویشتمه ماده:**

د دافغانستان بانک کولای شي، د دې قـانون د ښـه تطبیـق پـه منظـور، مقررات وضع کړي.

## څوارلسم فصل
## انتقالي حکمونه

**د قرار دادونو او معاملو مرعي الاجراء والي**

**یو سلو څلېریشتمه ماده:**

قرارداد، خرڅلاو، برأت، سند یا بهـالرونکی سـند، معاملـه، موضـوع یا هغه شی چې په پیسو پورې تړلی یا د پیسو پـه ورکـړې یـا د ورکـړې پـه مکلفیـت کـې شـامل وي، پـه هغـه صـورت کـې چـې د دې قـانون لـه انفـاذ څخـه د مخـه پیـل یـا یـې تحقـق مونـدلی وي، مرعـي الاجـرأ ګڼـل کېږي.

**د سوداګریزې بانکوالۍ خدمتونه**

**یو سلو پنځه ویشتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د هېواد په نورو ځایونو کې سوداګریز بـانکي خدمتونه ممکن نه وي، د دافغانستان بانک کولای شي دغه خدمتونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوو کلونو لپاره په خپلو دفترونو کې د سوداګريزو حسابونو د لرونکو لپاره چې په سودا ګريزه فعاله راکړه ورکړه باندې بوخت وي، وړاندې کړي. په هغه صورت کې چې بانک په يوه سيمه کې د سودا ګريزو بانکي خدمتونو په سرته رسولو قادر شي.

د دافغانستان بانک کولای شي په ليکلې خبرتيا سره خپلو مشتريانو ته دغه خدمتونه پای ته ورسوي او حسابونه يې بند کړي. د سوداګريزو بانکي خدمتونو وړاندې کول يا نه وړاندې کول، د دې مادې مطابق نشي کولای د دې خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د دافغانستان بانک په واسطه د بشپړو شوو موافقه ليکونو پر اعتبار اغېزه ولري.

**د څېړنې خپلواکه کميټه**

**يو سلو شپږويشتمه ماده:**

د دې قانون د انفاذ له نېټې څخه وروسته د يوې مياشتې مودې په ترڅ کې له کورنيو، بهرنيو او نړيوالو متخصصينو څخه جوړ د څېړونکو، مرکزي بانکوالۍ د متخصصينو او عندالزوم د نورو متخصصينو په ګډون يوه خپلواک کميټه جوړېږي تر څو د دافغانستان بانک ټولې شتمنۍ او بديهۍ د مشروطو شتمنيو او بديهيو، په دولتي تصديو کې د دافغانستان بانک د ونډو او په بهرنيو حسابونو کې د دافغانستان بانک د نقدو وجوهو او موجودو سرو زرو په شمول، د هغه شتمنۍ وټاکي او ويې ارزوي او يو بيلانس شيټ چې د حساب څېړنې له نړيوالو معيارونو سره په مطابقت کې د بهرنيو خپلواکو څېړونکو په واسطه څېړل شوې وي، تصويب کړي.

د هغه د جوړېدو له نېټې څخه د پنځو مياشتو په ترڅ کې کميټې د دغو معلوماتو پر بنسټ په لاندې مواردو کې خپل وړاندېزونه وړاندې کوي:

۱- د دافغانستان بانک د مجازې پانګې ميزان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د دافغانستان بانک زېرمه ایزو حسابونو ته د وجوهو د تخصیص میکانیزم.
۳- په دولتي تصدیو کې د دافغانستان بانک د ونډو د پلورلو یا خوشې کولو او د نورو غیرمرتبطو شتمنیو د پل و هلو (ردیابی) پروسه.
۴- له د افغانستان بانک څخه د تېرو حکومتونو پورونې.

**تصدیو ته اسعاري حسابونه**

**یو سلو اووه ویشتمه ماده:**

د دافغانستان بانک مکلف دی، د دې قانون له انفاذ وروسته د شپږو میاشتو مودې په ترڅ کې، په یو اړخیز ډول ټول هغه حسابونه چې د کورنیو تصدیو په استازیتوب یې په بهرنیو مالي مؤسسو کې افتتاح کړیدي او ساتل کېږي، بند او منحل کړي او پر دغو حسابونو باندې د تطبیق وړ ټول موافقه لیکونه فسخ او د دغو حسابونو د پاتو شتمنیو خالص ټول (مجموعي) مبلغ دولت ته را و ګرځوي، د دغو شتمنیو د خالص مجموع مبلغ محاسبه، له دغو حسابونو سره په رابطه کې له د افغانستان بانک څخه د دغو تصدیو د بدیهیو د مجموعي مبلغ له وضع کولو وروسته، په افغانیو باندې د دغو ټولو حسابونو د ټولې شتمنۍ له جمعې څخه عبارت ده. د یوه حساب دشتمنیو د خالص مجموعي مبلغ د محاسبې لپاره فقط د یوه حساب د هماغې ورځې د مبادلې ورکړل شوی نرخ، د اعتبار وړ دی.
په هغه صورت کې چې د شتمنیو خالص مجموعي مبلغ منفي وي، دولت دغه مبلغ د دافغانستان بانک د خبرتیا له ترلاسه کولو وروسته، د شپږو میاشتو په ترڅ کې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جواز نوي کول**

**یوسلو اته ویشتمه ماده:**

اشخاص مکلف دي د دغه قانون له انفاذ وروسته د شپږو میاشتو په موده کې د جواز د نوي کولو لپاره د دافغانستان بانک ته غوښتنلیک ورکړي.

د غوښتنلیک د ردېدو په صورت کې، پخواني جواز لغو ګڼل کېږي.

**د مالیې دوزیر په واسطه د عالي شوري د یوه غړي معرفي کول**

**یو سلو نهه ویشتمه ماده:**

د دې قانون له انفاذ وروسته، د دریو لومړیو کلونو په بهیرکې، د دافغانستان بانک د عالي شوري له غړو څخه د یوه تن مقررېدل (د ټولو د رئیس او لومړي مرستیال پرته) د مالیې د وزیر په وړاندیز صورت مومي.

**د تابعیت د اصل تعلیق**

**یو سلو دېرشمه ماده:**

د دې قانون له انفاذ وروسته، د دوو کلونو په ترځ کې، په عالي شوري او عامل هیئت کې د غړیتوب په منظور، د افغانستان د تابعیت د درلودلو اړتیا د تعلیق په حالت کې راځي.

**په سیاسي فعالیتونو پورې د اړوندو موادو دنفاذ ځنډېدل**

**یوسلو یودېرشمه ماده:**

د سیاسي فعالیتونو په اړه د څلورمې مادې د (۵) فقرې او د دوولسمې مادې د (۱) فقرې د (۸) جزء حکمونه، د هغې اداري له لومړۍ ورځې څخه چې د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت پرځای کښېني، نافذ یږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د احتیاطي مقرراتو تدریجي تطبیق

**یو سلو دوه دېرشمه ماده:**

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی هغه احتیاطي تدبیرونه چې د دې قانون او د بانکوالۍ د قانون په موجب اړین ګڼل کېږي، مقررات وضع او هغه د دې قانون له نافذېدو وروسته د دریو کلونو په موده کې تدریجاً تطبیق کړي.

(۲) په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک د خپلو څارنیزو دندو په سرته رسولو قادر نه وي، کولای شي د بهرنیو اسعارو صرافان، د ورکړې د سیستم مجریان، د پولي او بهالرونکو سندونو د خدمتونو برابروونکي او نور هغه اشخاص چې د دې قانون او د دافغانستان بانک د بانکوالۍ د قانون په موجب پر هغو باندې د څارنې واک (صلاحیت) لري، د دې مادې د (۱) فقرې له حکم څخه معاف کړي.

### د عالي شورې د غړو د تقرر په هکله حکم

**یوسلو درې دېرشمه ماده:**

د ملي شورې دنه موجودیت په صورت کې، د دافغانستان بانک د عالي شورې غړي، د افغانستان د جمهور رئیس لخوا مقررېږي.

### انفاذ

**یو سلوڅلور دېرشمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ دی او په رسمي جریده کې دې خپور شي او په خپرېدو سره یې، د ۱۳۷۷/۸/۱۶ نېټې په (۷۷۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د پیسو او بانکوالۍ قانون او نور اړوند تقنیني سندونه او مغایر حکمونه لغو ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعدیل ماده هفتم قانون دد افغانستان بانک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان بانك د قانون په اوومه ماده كې دحذف او تعديل په هكله دافغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

**ګڼه: (۴۲)**

**نېټه: ۲۷ /۱۱/ ۱۳۸۸**

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون په نهه او يايمه ماده كې ددرج شوي حكم سره سم ددافغانستان بانك د قانون په اوومه ماده كې حذف او تعديل چې د وزيرانو شوري د ۱۱/ ۸/ ۱۳۸۸نېټې د (۳۲) ګڼې مصوبې پر بنسټ په دوو مادو كې تأييد شوی، توشېح كوم .

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چارو كې د دولت وزير مؤظف دي ، دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودي په ترڅ كې، هغې شوري ته وړاندې كړي .

**درېيمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافد او د نوموړي حذف او تعديل سره يو ځای دی په رسمي جريده كې خپور شي.

**حامد كرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دافغانستان بانك د قانون د اوومې مادې دحذف او تعديل په هكله دافغانستان داسلامي جمهوريت دوزيرانو دشوري مصوبه**

**گڼه : (۳۲)**

**نېټه : ۱۳۸۸/۸/۱۱**

دافغانستان داسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري د ۱۳۸۸/۸/۱۱ نېټې په خپله غونډه كې د ۱۳۸۲/۱۱/۳۰ نېټې په (۸۱۹) گڼه رسمي جريده كې خپورشوي ددافغانستان بانك دقانون په اوومه ماده كې حذف او تعديل تصويب كړى دى، منظورم.

**حامد كرزى**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دافغانستان بانك د قانون په اوومه ماده کې حذف اوتعدیل

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۸۲/۱۱/۳۰ نېټې په (۸۱۹) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی ددافغانستان بانک دقانون داوومې مادې (۲) فقره دې حذف او ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوی متن دې د (۲) فقرې په توګه تعدیل شي.

**دوه یمه ماده :**

دغه حذف اوتعدیل دتوشیح له نېټې څخه نافذ اوپه رسمي جریده کې دی خپور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون د افغانستان بانک

جریدهٔ رسمی شمارهٔ(۸۱۹)
مؤرخ ۱۳۸۲/۱۱/۳۰ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمان**
**رئیس دولت انتــقالی اسلامی افغانستان در مورد انفاذ**
**قانون دافغانستان بانک**

**شماره: (۶۲)**

**تاریخ: ۱۳۸۲/۶/۲۷**

به‌خاطر هماهنگ ساختن قوانین بانکی با مقتضیات عصر حاضر و به‌منظور ایجـاد فضای کاملاً مطمئن و مصؤن و جلـب اعتمـاد و تـشویق هرچـه بیـشتر سـرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی و سایر مراجع بین المللی در سیـستم بـانکی و سهم گیری فعالشان در حیات اقتصادی و عطف توجه دولت به بخش خـصوصی، قانون د افغانستان بانک را به‌نـام خـدای توانـا (ج) توشیح می‌نمایم.

این فـرمـــان از تـاریخ توشیح نافـذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**
**رئیس دولت انتــقالی اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قانون د افغانستان بانک

## فصل اول

## تأسیس، اهداف و وظایف دافغانستان بانک

### تأسیس

**مادهٔ اول:**

(۱) د افغانستان بانک، بانک مرکزی افغانستان است.

(۲) د افغانستان بانک به‌حیث شخصیت حکمی دارای صلاحیت‌های کامل قانونی بوده، می‌تواند قراردادهای مربوط را منعقد، اموال منقول و غیر منقول را حصول یا واگذار، اسناد بهادار مربوط را صادر و به اشکال مختلف قرضه‌ها را دریافت و طرف دعاوی حقوقی قرار گیرد.

(۳) دفتر مرکزی د افغانستان بانک در شهر کابل بوده و می‌تواند در داخل و خارج افغانستان با اختیارات و وظایفی که لازم می‌داند، دفاتر نمایندگی و ارتباطی فرعی خود را تأسیس و نمایندگان و بانک‌های کارگذار را تعیین نماید.

### اهداف و وظایف اساسی

**مادهٔ دوم:**

(۱) هدف عمدهٔ د افغانستان بانک عبارت از تأمین و حفظ ثبات قیمت‌های داخلی است.

(۲) سایر اهداف د افغانستان بانک که تابع هدف اولیهٔ آن می‌باشد، عبارت اند از حمایهٔ سیالیت (نقدینه گی)، قابلیت پرداخت دیون، فعالیت مؤثر سیستم مالی ثابت متکی بر اقتصاد بازار و تقویهٔ سیستم پرداخت مصئون، سالم و مؤثر ملی.

د افغانستان بانک با در نظرداشت هدف اولیه‌اش سیاست‌های کلی اقتصادی دولت را حمایه و رشد اقتصادی دوامدار را تقویه می‌نماید.

وظایف اساسی د افغانستان بانک منحیث بانک مسئول قرار آتی است:

۱- طرح، اتخاذ و اجرای سیاست پولی افغانستان.

۲- طرح، اتخاذ و اجرای سیاست ارز و ترتیبات اسعار افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- نگهداری و ادارۀ ذخایر رسمی اسعار افغانستان.
۴- چاپ، ضرب و نـشر پول کاغذی و مسکوکات فلزی افغانستان.
۵- انجام وظایف منحیث بانکدار، مشاور و نمایندۀ مـالی دولت.
۶- صدور یا ثبت جواز، تنظیم و نظارت بـر بانـک‌هـا، صـرافان اســـعار، عرضـه کنندگان خدمات پولی، مجریان سیـستم پـــرداخت، عرضـه کننــدگان خـدمات اسناد بهـادار، مجریـان سیـستم انتـــقال اسـناد بهـادار و سـایر اشخاصـی کـه د افغانستان بانک می‌تواند مطابق احکام قانون آنها را نظارت نماید.
۷- ایجاد، نگهداری و توسعۀ سـیستم مؤثر و سالم جهت پرداخت و انتقال اسـناد بهادار که از طرف دولت یا د افغانستان بانک صادر شده باشد و تصفـــیه و تسویۀ حساب معاملات پرداختی و معاملاتی که در چنین اسناد بهادار صورت می‌گیرد.

**خود مختاری**

**مادۀ سوم:**

(۱) د افغانستان بانک به منظور اجرای وظایف خود دارای صلاحیت‌هـای کامـل قانونی به شمول تصویب مقـررات جهـت فـراهم نمـودن تـسهیلات در معـاملات الکترونیکی میان د افغانستان بانک و بانک‌ها و مشتریان مربوطه آنها می‌باشـد. د افغانستان بانک این مقررات، دستورالعمل‌ها یا رهنمودها را در یک دفتـر عمـومی ثبت می‌نماید.

(۲) د افغانستان بانک صلاحیت بازدید ادارات و بررسی حـسابها، دفـاتر، اسـناد و سایر مدارک بانک‌ها، صرافان اسعار، مجریان سیـستم پرداخت، عرضـه کننـدگان خدمات پولی، عرضه کنندگان خدمات اسـناد بهـادار، مجریـان سیـستم انتـــقال اسناد بهادار و سایر اشخاص که جواز فعالیت را مطابق احکام ایـن قـانون بدسـت آورده و از جانب د افغانستان بانک و یا در د افغانستان بانک ثبت شده باشند، دارا بوده و اطلاعاتی را که در اجرای مکلفیت‌های نظارتی خود لازم بداند می‌توانـد از اشخاص مذکور بدست آورد.

(۳) د افغانستان بانک به منظور تحقق اهداف خود مطابق احکام این قانون دارای استقلال کامل بوده و هـیچ کـس نمـی‌توانـد اعـضای هیئـت تـصمیم گیرنـده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان بانک را در انجام وظایفی که به‌عهده دارند، تحت تأثیر ناجایز قـرار داده و یا طور دیگری در فعالیت‌های د افغانستان بانک مداخله نماید.
(۴) اعضای شورای عالی، هیئت عامل و سایر کارمندان دافغانـستان بانـک مکلـف اند وقار و شهرت د افغانستان بانک را به حیث بانـک مرکـزی و دارنـدهٔ اسـتقلال کامل که بی‌طرفانه در خدمت تمام مردم قرار دارد، رشد و تقویه نموده و از عمـل مغایر آن اجتناب ورزند.
(۵) اعضای شورای عالی د افغانستان بانک نمی‌توانند حین اجرای وظـایف شـان، به فعالیت‌های سیاسی مبادرت ورزند.

**همکاری بین المللی**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) د افغانستان بانک در جلـسات بـین الحکـومتی، گـردهم آیـی‌هـا، شـوراها و سازمانهای مربوط به سیاست پولی، صدور جوازها و نظارت بر بانک‌ها و اشخاصـی که به موجب این قانون، بر آنها صلاحیت نظارت دارد و سایر اموری‌که در حیطـهٔ صلاحیت آن می‌باشد، به نمایندگی از افغانستان شرکت می‌کند.
(۲) د افغانستان بانک می‌تواند برای دول خارجی، بانک‌هـای مرکـزی خـارجی و سایر مقامات پولی و سازمان‌های بین المللی که د افغانستان بانک یا افغانستان در آنها شرکت دارد، خدمات بانکی را انجام دهد.
(۳) د افغانستان بانک می‌تواند از طریق همکاری‌های بین المللی پـولی، عـضویت سازمان‌های بین المللی را که هدف آن ثبات پولی و اقتصادی مـی‌باشـد، بدسـت آرد.
(۴) د افغانستان بانک می‌تواند منحیث نماینده در رابطه به شرکت افغانـستان در سازمانهای بین المللی مسئولیت هـایی را بـه عهـده گرفتـه و داد و سـتدهائی را انجام دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصلاحات**

**مادهٔ پنجم:**

اصطلاحات ذیل در این قانون مفاهیم آتی را افاده می‌نمایند:

۱- بانک:

شخصیت حکمی است که به منظور ایجاد اعتبارات یا سرمایه گذاری، مشغول داد و ستد و دریافت سپرده‌های پولی یا سایر وجوه قابل بازپرداخت از عموم برای حساب خود می‌باشد.

۲- نقد سازی چک:

دریافت مزد یا اجوره جهت پرداخت پول، اسناد پرداخت یا ارزش ذخیره شده در بدل حصول اسناد پرداخت یا ارزش ذخیره شده (به استثنای چک‌های سفری) به شخصی است که اسناد پرداخت یا ارزش ذخیره شده را تحویل می‌دهد.

۳- کالا:

پول، فلز، تولیدات زراعتی، اجناس و سایر دارایی‌های است که طبق اسناد تقنینی مربوط به‌حیث کالا شناخته شده باشد.

۴- تبادلهٔ اسعار:

دریافت عواید از بابت تبادلهٔ پول یک کشور در برابر پول کشور دیگر می‌باشد.

۵- سند بهادار قرضه:

سند قرضه قابل معامله، سند معادل آن و سند قابل معامله است که حق حصول سند بهادار قرضه دیگر توسط تعهد اشتراک یا تبادله را بدهد. اسناد بهادار قرضه شامل سند ثبت شده در دفتر نیز می‌باشد.

۶- مشتق:

قرارداد قابل معامله پیش خرید، مستقبلی، اختیار و سایر قراردادهایی است که دارندهٔ آن مستحق امتیازات آتی می‌گردد:

- حصول سند بهادار یا یک مجموعه از اسناد بهادار و یا کالاها.
- دریافت پول نقد که در رابطه با یک قیمت آینده یا ارزش آینده سند بهادار یا کالا یا مجموعه از اسناد بهادار یا کالا ها تعیین می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دریافت مبلغ پول نقد که در رابطه به نرخ تکتانه یا نرخ مبادله اسعار یا شاخص قیم یا نرخ یا ارزش نرخ تکتانه، نرخ مبادله اسعار، اسناد بهادار و کالاها تعیین می‌گردد.

۷- بازار مالی:

بازار پولی است که در آن داد و ستد اسناد بهادار و سایر فعالیت‌های مربوط به چنین بازار صورت می‌گیرد.

۸- سعر یا ارز:

عبارت است از:

- پول سایر کشورها به استثنای پول افغانستان.
- واحد پولی حسابی که به‌وسیله یک سازمان بین الحکومتی یا طبق موافقه دو یا چند کشور به‌میان می‌آید.
- طلای مسکوک و غیر مسکوک مشروط بر این‌که تغییرات قابل ملاحظه در آن وارد نگردیده باشد.

۹- رایج:

عبارت از پول رایج قانونی کشور یا محل دیگر می‌باشد.

۱۰- بانک نوت:

بانک نوت عبارت است از وسیله‌ای‌که به‌مقصد استعمال به‌حیث پول یا برابر با پول، مورد استفاده قرار می‌گیرد و به استیذان مرجع ذیصلاح قانونی، در کشور یا محل دیگر نشر می‌شود.

۱۱- صراف اسعار:

شخصی است که مشغول خرید و فروش اسعار، قراردادهای پیش خرید اسعار، امور پرداخت به اسعار و یا قرارداد اختیار، معاوضه و یا هر قرارداد مشتقی دیگری که معامله اسعار را در بردارد، می‌باشد.

۱۲- قرار داد پیش خرید:

قرار دادی است جهت دریافت اسناد بها دار قرضه یا کالا ها در آینده با قیمت معین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- قرار داد مستقبلی:

قرارداد پیش خرید است که با شرایط و ضوابط معیاری آن در بازار مالی معامله می‌شود.

۱۴- صندوق سرمایه گذاری:

شرکتی است که از طریق دریافت وجوه از عموم مردم در اسناد بهادار، سرمایه گذاری می‌نماید.

۱۵- معیارهای حسابداری بین المللی:

آخرین و تازه‌ترین معیارهای حسابداری بین المللی است که از جانب کمیتهٔ معیارهای حسابداری بین المللی صادر می‌گردد.

۱۶- ارزش پولی:

وسیلهٔ مبادله است که قابل بازخرید به پول نقد باشد یا نه.

۱۷- پول:

وسیله مبادله است که به‌وسیله افغانستان یا کشور دیگر مجاز شناخته شده و مورد قبول قرار گرفته باشد. این اصطلاح شامل واحد پولی حسابی نیز می‌باشد که توسط یک سازمان بین الحکومتی یا طبق موافقهٔ بین دو یا بیشتر از دو کشور بر قرار گردیده باشد.

۱۸- خدمت پولی:

خدمتی است که در رابطه با پول (به‌شمول حفظ و نگهداشت پول، انتقال پول، نقد سازی چک و تبادله اسعار) صورت می‌گیرد.

۱۹- عرضه کنندهٔ خدمت پولی:

شخصی است که در تهیهٔ خدمات پولی مشغول می‌باشد.

۲۰- انتقال پول:

عبارت است از فروش یا صدور اسناد پرداخت، ارزش ذخیره شده یا دریافت پول و یا ارزش پولی برای انتقال. (این اصطلاح تنها شامل رسانیدن فزیکی پول و خدمات آن لاین و تیلی مواصلاتی و دسترسی به شبکه «نیت ورک» نمی‌شود).

۲۱- قابل معامله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبارت از قابلیت انتـقال قانونی مالکیت سند به‌وسیلهٔ رسانیدن یا ظهرنویـسی یـا ثبت سند در دفتر ثبت مـالکین آن در رابطه به اسناد مالی می‌باشد.

۲۲- قرار داد اختیار:

قراردادی‌است که دارندهٔ امتیاز آن حق خرید یا فروش اختیاری سند بهـادار و یـا کالا را به قیمت مورد موافقه الی تاریخ معین در خلال میعاد اعتبار آن بـه مقـدار معین دارد.

۲۳- سند پرداخت:

عبارت است از چک، برات، حواله (منی آردر)، چک سفری و سـایر اسـناد جهـت انتـقال و پرداخت پول و ارزش پولی که قابل معامله یا غیر قابل معامله می‌باشد. فورم کارت‌های اعتباری، لیتراف کریدت‌ها و سـایر اسـنادی‌کـه بـه‌وسـیله صـادر کنندهٔ آن قابل تبدیل به کـالا و خدمات باشد، از این حالت مستثنی است.

۲۴- سیستم پرداخت:

به شمول شبکه مواصلاتی عبارت از هر نـوع طـرز العمـل اسـت کـه جهـت طـی مراحل پرداخت، تصفیه و تسویهٔ معاملات پرداختی و تبادلـهٔ پرداخـت در مقابـل سایر پرداخت‌ها، مکلفیت‌های مالی یا اسناد بهادار در هر گونه اسعار میان سـه یـا بیشتر از سه عرضه کنـندهٔ خدمات پولی توافق می‌گردد.

۲۵- عامل یا مجری سیستم پرداخت:

شخصی است که سیستم پرداخت را به‌کار می‌اندازد.

۲۶- شخص:

عبارت از شخص حقیقی یا حکمی است.

۲۷- ریکارد:

معلوماتی‌که در وسیلهٔ قابل لمس نگهداری یا در یک وسیلهٔ الکترونیکی و یا غیـر آن ذخیره شده و دو باره به شکل قابل فهم به‌دست آمده بتواند.

۲۸- سند بهادار:

سند مالی قابل معامله (به‌شکل سند یا به شکل ثبت در دفتـر) اسـت کـه شـامل انواع ذیل می‌باشد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



